د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د نورستان ولایت د پوهنې ریاست

د کیفیت تضمین آمریت

د نورستان ولایت د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ کلنی راپور



د راپور ورکولو دوره: (حمل ـ حوت) ۱۴۰۴ هـ .ل کال

مطالبو نومړۍ

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې د راپور ترتیب کوونکو نومړۍ 1

د ولایت په هکله عمومي معلومات 2

سریزه 4

لومړۍ برخه 5

د کړنو لنډیز 5

دویمه برخه 7

د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ 7

برنامه 1: اسلامي زده کړې 7

1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی 7

1.2 مدرسی/ښوونکی/ښوونکی 8

1.3 نصاب 10

1.4 ښوونیزه ارزونه 10

1.5 ښوونیز چاپیریال 11

1.6 د ټولنې ګډون 12

1.7 مدیریت 12

برنامه 2:ښوونه او روزنه 12

2.1 زده کوونکی 12

2.3 نصاب 19

2.4 ښوونیزه ارزونه 21

2.5 ښوونیز چاپیریال 21

2.6 د ټولنې ګډون 28

2.7 مدیریت 29

برنامه 3: تضمین کیفیت 32

3.7 مدیریت 32

برنامه 4: مالي او اداري 35

4.1 طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/د سواد زده کړې زده کوونکی 35

4.2 مدرس/ښوونکی/ښوونکی 35

4.3 نصاب 36

4.4 ښوونیزه ارزونه 36

4.5 ښوونیز چاپیریال 36
4.6 د ټولنې ګډون 39
4.7 مدیریت 39
5: پوهنې ریاست اړوند (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان و...) 41
5.1 طالب العلم، حافظ، زده‌کوونکی او سواد زده‌کوونکی 41
5.2 مدرس/ښوونکی/ښوونکی 41
5.3 نصاب 41
5.5 ښوونیز چاپیریال 41
5.6 ټولنې ګډون 41
5.7 مدیریت 41
درېیمه برخه 43
غیر پلانې فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه 43
څلورمه برخه 48
تحلیل او پایلې 48
پنځمه برخه 101
د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې 101
شپږمه برخه 102
مالي راپور تحلیل 102
اوومه برخه 103
ملپانې 103

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې د راپور ترتیب کوونکو نومړ

نوم او کورنی نوم	دنده	بریښنا لیک	گرځنده شمېره/واتساپ	لاسلیک
سید رسول (عابد)	آمر تعلیم و تربیه	نلری	۰۷۰۷۲۷۵۶۷۵	
امیر محمد(صدیقی)	آمر تعلیمات اسلامی	amermohammad@gmail.com	۰۷۰۵۶۷۱۵۹۷	
صالح (شمس)	آمر منابع و اداره	Salihshsms512@gmail.com	۰۷۹۹۶۶۳۳۱۲	
عبدالسلام (محسن)	آمرتضمین کیفیت	نلری	۰۷۰۷۰۳۵۸۸۰	
وحید الله (نوری)	عضوه مسلکی تحلیل و توحید گزارشات	nooriwaheed91@gmail.com	۰۷۰۳۵۷۸۷۰۸	
محی الدین(روحانی)	عضوه مسلکی تحلیل و توحید گزارشات		۰۷۰۸۳۸۰۶۸۰	

د پوهنې د رییس تاییدي:

نوم او کورنی نوم	دنده	بریښنا لیک	گرځنده شمېره/واتساپ	لاسلیک
مولوی تاج محمد (مطمئن)	رئیس معارف نورستان	tajmuhammadmutmaeen@gmail.com	۰۷۰۰۰۰۷۱۸۱	

د ولایت په هکله عمومي معلومات

(نورستان ولایت) پېژندنه:

نورستان ولایت د افغانستان له ۳۴ ولایتونو څخه یو غرنی ولایت دی، چې مساحت یې ۹،۲۶۶ کیلومتره مربع ته رسېږي او په منځنۍ کچه، د سمندر له سطحې څخه شاوخوا ۳،۳۶۴ متره لوړوالی لري. د دې ولایت مرکز د پارون ښار دی. دغه ولایت یو مهال د «بلورستان» په نوم یادېده.

د دې ولایت شمال ته د هندوکش غرونو او د بدخشان او پنجشېر ولایتونو، ختیځ ته چترال، سویل او سویل لوېدیځ ته کونړ او لغمان او لوېدیځ ته د پنجشیر سره ګډه پوله لري.

دغه ولایت د نښتر، څېړی، جلغوزي او نورو ځنګلي ونو په پراخو ځنګلونو پوښل شوی دی، چې ځانګړې طبیعي ښکلا لري، او هموارې ځمکې یې ډېرې کمې دي. دا ولایت معتدله او نسبتاً سړه هوا لري؛ په ژمي کې یې د حرارت درجه تر منفي هم رابښته کېږي، او په اوړي کې یې هوا معتدله او مناسبه وي.

سیاسی وضیعت

دغه ولایت د مرکز پارون په ګډون ۱۰ (کانتوا، واما، وایګل، کامدېش، برګمټال، نورګرام، دوآب، وانت، منډول) اداري واحدونه لري.

ټولنیز وضیعت

د احصایې او معلوماتو پر بنسټ، د دې ولایت اټکلي نفوس ۱۷۲،۵۲۳ تنه دی، چې له دې جملې څخه ۸۸،۰۵۹ تنه نارینه او ۸۴،۴۶۴ تنه ښځینه جوړوي. د دې ولایت ټولې سیمې اطرافي ګڼل کېږي او یوازې د مرکز اوسېدونکي له ښاري ژوند څخه برخمن دي.

په دې ولایت کې لوی قومونه ژوند کوي، لکه: پرسوني (پراسوني)، کته، کلښه، پشه‌یي، ګجر او پښتون، چې په خپلو اړوندو ژبو خبرې کوي. په دولتي ادارو کې رسمي ژبې پښتو او دري دي.

د دې ولایت شاوخوا ۸۵٪ خلک په اطرافي سیمو کې ژوند کوي. په دغه ولایت کې د ۷–۱۸ کلونو کم‌عمره ماشومانو شمېر ۵۴٬۰۵۹ تنو ته رسېږي. له دې ډلې ۹٬۴۱۲ تنه نجونې دي.

په یاد ولایت کې ۲۱۶ بابه د عمومي زده کړو ښوونځي فعال دي، چې له دې جملې څخه ۲۹ بابه لیسې، ۹۲ بابه منځنۍ ښوونځي او ۹۵ بابه لومړني ښوونځي دي.

په دې ولایت کې یو باب دولتي پوهنتون شته، چې د ښوونې او روزنې او شرعیاتو پوهنځي پکې فعال دي، او کوم خصوصي پوهنتون شتون نه لري.

همدارنګه یو باب ۱۰۰ بستریز روغتون جوړ شوی دی، چې د دې ولایت د اوسېدونکو په خدمت کې دی.

اقتصادي وضيعت

نورستان د کمو ځمکو لرلو سربیره، کابو ٦٥٪ خلک په کرهڼه بوخت دي، مهم کرنیز محصولات یې له جوار، غنم، لوبیا او الوګان او همدارنګه میوه یې له چارمغز، جلغوزي، منې، زردالو او داسې نورو څخه عبارت دي.

همدارنګه د نورستان ترکاڼان د نښترو لرګو څخه دروازې، کړکۍ، میز، چوکۍ اوداسی نورشیان جوړه وي او نورو ولایتونوته یې صادروي.
په ټوله کې د کرهڼې پراختیا، صنعتي فعالیتونو پرمختګ او د بیا رغاونې او پراختیایې کارونو ته لومړیتوب ورکول د دې ولایت د عمده موخو څخه دي.

په دې ولایت کې دافغانستان بانک، کابل بانک نمائینده ګي فعاله دي او همدارنګه نورستان کې د۷۰۰ کېلو واټه بریښنا د دولت له خوا جوړه شوې ده او هرې قریې خپله محلي بندونه جوړ کړي دي او له هغې څخه ګټه اخلي.

مطبوعاتواو معلوماتي ټکنالوژي او امنیتي وضیعت

په یاد ولایت کې تر اوسه چاپي مطبوعات منظم فعالیت نه لري. خو په مرکز پارون ښار کې د ملي راډیو ـ تلویزیون نمایندګي د FM له لارې او په نورګرام ولسوالۍ کې الینای FM راډیو فعالیت کوي.
د مخابراتي خدماتو له اړخه د سلام (SALAM) مخابراتي شبکه په وایګل او مرکز پارون کې، روشن شبکه په واما او مرکز کې، او افغان بېسیم شبکه په مرکز، واما، برګمټال، دوآب، نورګرام او کانټوا ولسوالیو کې خدمات وړاندې کوي.

ورزش اوسپورټ

د دې ولایت اوسېدونکي د نورو ولایتونو په څېر په ورزشونو کې برخه اخلي، خو د خپلو محلي لوبو ته ډېره پاملرنه کوي. د دوی دودیزې لوبې له: پهلواني، غشي ویشتل، کانې ویشتل، غورسي څخه عبارت دي.
همدارنګه نړیوالې لوبې لکه کرکټ، فوټبال او والیبال هم په دې ولایت کې مروجې شوې دي او ځوانان پکې فعاله وندې اخلي.

سریزه

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين محمد وعلى آله و اصحابه اجمعين.

اما بعد:

د ۱۴۰۴ هـ.ش کال عملياتي پلان د دې ولايت د پوهنې رياست له کاري اړتياوو او لومړيتوبونو سره سم، د پنځو بنسټيزو پروګرامونو تر چتر لاندې ترتيب شوی دی، چې پکې اسلامي زده کړې، ښوونه او روزنه، د کيفيت تضمين، مالي او اداري چارې او د مقام دفتر شامل دي.

دغه پلان د زده‌کړيز نظام د اساسي عناصرو (زده‌کوونکی/شاګرد/سواد زده کوونکی، ښوونکی/استاد/معلم، نصاب، ښوونيزه ارزونه، ښوونيز چاپېريال، د ټولنې ګډون او مديريت) پر بنسټ، د ولايت د مرکز او ولسوالیو په کچه طرحه او ترتيب شوی دی.

ياد عملياتي پلان د پوهنې وزارت د محترم مقام له لوري تر تأييد او منظوری وروسته له اړوندو مسؤلينو سره شريک شوی او تر پلي کېدو لاندې دی.

د راپور ورکولو او ترلاسه کولو سيستم د اغېزمن مديريت له مهمو اصولو څخه ګڼل کېږي، چې د دې ولايت د پوهنې رياست په مرکز او ولسوالیو کې رامنځته شوی دی. د همدې سيستم له مخې، د يادو پلانونو د تطبيق او پرمختګ په تړاو منظم او دوراني راپورونه ترتيبېږي، چې تر تجزيې، تحليل او توحيد وروسته تر يو ګټه اخيستل کېږي.

د راپورونو د ترلاسه کولو په موخه، د مياشتني او ربع‌وار راپور ورکولو فارمټونه ترتيب شوي دي. د راپور ورکولو کړنلارې او ټاکلي مهال‌وېش له مخې، د عملياتي پلان د تطبيق او پرمختګ مياشتني او ربع‌وار راپورونه د ولايت د مرکزي تشکيلاتو له آمريتونو او د ولسوالیو د پوهنې له آمريتونو څخه ترلاسه کېږي، چې تر سمون او وروستۍ بڼې وروسته له اړوندو مسؤلينو سره شريکېږي.

د پلانونو د پرمختګ راپورونو او د پوهنې رياست د لاسته‌راوړنو د وړاندې کولو په لړ کې، دا مهال د دې ولايت د پوهنې رياست د ۱۴۰۴ هـ.ش کال د عملياتي پلان د تطبيق او پرمختګ د څلورمې ربعې راپور، په لاندې اوو بنسټيزو برخو کې ترتيب شوی او د راتلونکو کړنو لپاره وړاندې کېږي:

1. **د کړنو لنډيز**
2. **د فعاليتونو تشريحي برخه**
3. **له پلان څخه بهر د ترسره شوو فعاليتونو اجراآت (کړنې)**
4. **تحليل او پايله (تحليلی جدول)**
5. **ستونزې او د حل لارې**
6. **لګښتونه او بودیجه (مالي راپور)**
7. **ضمیمې**

لومړی برخه

د کړنو لنډیز

زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال

- د نورستان ولایت اړوند د عمومي زده کړو په ۲۱۱ بابه ښوونځیو کې، د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوری په شرایطو برابرو ماشومانو د پراخه ګډون او زده کړې په موخه، عامه پوهاوی ترسره شوی دی.
- د دې ولایت اړوند د عمومي زده کړو د ښوونځیو په لومړنۍ دوره کې ۴،۶۴۸ تنه زده کوونکي نوي جذب شوي دي، چې له دغې ډلې څخه ۲،۴۳۲ تنه هلکان او ۲،۲۱۶ تنه نجونې دي.
- د یاد ولایت په کچه، د ټولګي او سویې د تثبیت ازموینې له لارې په لومړۍ دوره کې 256 تنه، په منځنۍ دوره کې ۵۶۶ تنه او په لیسې دوره کې ۲۳۰ تنه شامل شوي دي.

2. مدرس/استاد/ښوونکی

- د یاد ولایت په کچه، ۲۰ تنه د مسلکي پراختیا علمي غړي ګمارل شوي دي، او هغوی ته د ورسپارل شوو دندو پر مخ وړلو په اړه لارښوونه هم شوې ده.
- د دې ولایت په کچه، 458 د رشتې خلاف ښوونکي په ګوته او د ستونزو حل په اړه ورته زده کړه ییزې حلقې جوړې شوې دي.
- د دې ولایت په کچه، ۱۱ بابه د سواد زده کړې افتخاري کورسونه ایجاد شوي دي.

3. نصاب

- د دې ولایت اړوند د عمومي زده کړو ۶۱ بابه ښوونځیو ته، 96 ټوکه د ساینس او ریاضی لارښود کتابونه ویشل شوي دي.
- د دې ولایت په کچه، ۵۰ ټوکه د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتابونه ویشل شوي دي.
- د ولایت په کچه، د ۸۵۵ ټوکه د سواد زده کړې کتابونو اړتیا سنچول شوې ده.

4. روزنیزه ارزونه

- د دې ولایت اړوند، د اشټوی، پشکی او واما ښوونځیو اړوند۳ بابه لابراتوارونه تجهیز شوي.
- د دې ولایت په کچه، ۱۲۳ بابه بې سرپناه ښوونځي او 311 بابه د ازادې فضا ټولګي شتون لري.

. روزنیز چاپېریال

- د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د جوماتونو د ملا امامانو له لوري د سواد زده کړې 4 بابه کورسونه رامنځته شوي دي.
- د دې ولایت په کچه، د ۱۴۰۵ هـ ش کال د پلان لپاره د ۲ نیمګړو ودانیزو پروژو نوملړ ترتیب او د پوهنې وزارت ته استول شوی دی.

6. د ټولنې ګډون

- د دې ولایت په کچه، د ښوونیزو پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ولایت په کچه 1، د ولسوالیو په کچه 10 او د کلیو په کچه 45 غونډې ترسره شوې دي، همدارنګه د کلیوالي کمیټو له لوري ۲۰ غونډې هم ترسره شوې دي.

- د دې ولایت اړوند د کامدیش، واما او ښار پوهنې آمریت اړوند د (کشتوز نمبریک لیسه، پونځ متوسطه او چتراس مختلط ښونځي ودانۍ ته د عامو خلکو له خوا ۵ جریبه ځمکه ورکړل شوې ده.

7. مدیریت

- د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، ۱۱۰ تنه کارکوونکو ته د دعوت او ارشاد نصاب تدریس شوی دی، همدارنګه د ۱۸ مې ګڼې حکمونو او فرمانونو په اړه اړینې کړنې ترسره شوې دي، او د ۸۵ تنه کارکوونکو د صورت او سیرت څخه هم څارنه ترسره شوې.
- د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د عرفان مجلې ٦٦ ټوکه، د بخوان او بیندیش مجلې ٦٦ ټوکه او د پوهنې اونیزې په نامه ٦٣٢ ټوکه مجلې ویشل شوې دي.

ستونزې:

- د پوهنې وزارت له لوري د بودیجې تخصیصونه پر وخت نه لېږل کېږي.
- د اړتیا مطابق کافي او پوره بودیجه نه تخصیص کېږي او نه هم پر وخت رالېږل کېږي.
- د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د عزیزی بانک نمایندګي شتون نه لري، چې دغه تشه د بودیجې پر وخت او شفاف لګښتونو کې څنډ او ستونزې رامنځته کړې دي.
- د کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړونې پروګرامونه نه دي پرانیستل شوي.
- د لیک لوست او زده کړیزو برنامو لپاره د ودانیو نشتون نشتون.
- د عامه پوهاوي لپاره د ځانګړې بودیجې نشتون.

حل لارې:

- باید تخصیصاتو پر وخت ولیږل شي او په BPETاو AFMISمالي سیستمونو کې ثبت شي.
- د دې ولایت د پوهنې ریاست د ۱۴۰۴ مالي کال د مصارفاتو مطابق دې بودیجه ځانګړې او پر وخت راولیږل شي.
- د ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د هغو خصوصي بانکونو استازولي پرانیستل شي، چې له پوهنې وزارت سره یې هوکړه کړې ده.
- د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې په موخه، د ظرفیت لوړونې پروګرامونه او روزنیزو سمیناروونه دایر شي.
- باید دښوونځیو په ځیر د لیک لوست زده کړې مرکزونه لپاره هم جلا، چلا ودانۍ جوړې شي.
- باید دنورو پروګرامونو په ځیر د عامه پوهاوي لپاره ځانګړې بودیجه په نظر کې ونیول شي.

دويمه برخه

د عملياتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ

دا برخه د پرمختګونو، احصائيوي معلوماتو او شمېرو شننه او سپړنه په بر کې نيسي، چې د عملياتي پلان د ټاکل شوو عناصرو او لومړيتوبونو لرونکې ده. پرمختګونه د هر پروګرام په کچه د ټاکل شوو شاخصونو او موخو له مخې په مفصل ډول تشريح کېږي.

برنامه 1: اسلامي زده کړې

1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی

1.1.1 لومړيتوب: د زده‌کړو په شرايطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه راستنېدونکو او داخلي بېځايه شوو لپاره د شمولیت د زمينې برابرول

1.1 فعاليت: په مدرسو او دارالحفاظونو کې د طالب العلمانو جذبول

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، اسلامي زده کړو ته د لاسرسی په موخه، د د دې رياست اړوند د اسلامي زده کړو آمريت له لوري د اړوند ولسوالیو په ۱۸۳ باب ديني مدرسو او دارالحفاظونو کې ۳،۱٦۰ تنه طالب العلمان جذب شوي دي، چې له دغې ډلې څخه 1711 تنه نارينه او 1259 تنه ښځينه په مدرسو او 62 تنه نارينه او 128 تنه ښځينه په دارالحفاظ کې دي؛ چې په دې سره ديني مدرسو او دارالحفاظونو کې ديني زده کړو پراختيا موندلی.

1.2 فعاليت: په دارالعلومونو کې د شمولیت زياتوالی

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې رياست اړوند د اسلامي زده کړو آمريت له خوا په 3 بابه دارالعلومونو کې 683 تنه نارينه او 683 ښځينه طالب العلمان جذب او شامل شوي دي چې له دغې جملې څخه په لومړي ټولګي کې 105 تنه طالب العلمان جذب شوي دي، د ۱-۳ ټولګيو پورې 359 تنه، ٤-٦ ټولګيو پورې 79 تنه، د ۷-۹ ټولګيو پورې 109 تنه، د ۱۰-۱۱ ټولګيو پورې 417 تنه او د ۱۲-۱۴ ټولګيو پورې 297 تنه طالب العلمان شامل شوي دي. چې په دې سره هغه خلکو ته د اسلامي زده کړو زمينه برابره شوې چې ور څخه بې برخې وو.

1.3 فعاليت: د اسلامي زده‌کړو په مېيت(ليليه) کې جذب شوي طالب العلمان

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د (نورستان ولايت) پوهنې رياست اړوند اسلامي زده کړو آمريت له خوا د 10 بابه ديني مدرسو په اړوند ليليو کې 197 تنه طالب العلمان جذب شوي دي، چې په دې سره هغه زده کوونکو ته د زده کړې زمينه برابره شوې، چې بيوزلي دي.

1.1.2 لومړيتوب: د قران کريم د سيالیو په لاره اچول

2.1 فعاليت: د ولايت په کچه د قران کريم د سيالیو په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، ياد فعاليت د دې ولايت پوهنې رياست په کچه نه دی ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت له لوري په دې اړه هدايت نه دی شوی.

1.1.3 لومړيتوب: د علمي سيالیو په لاره اچول

3.1 فعالیت: د دارالعلومونو او مدرسو د طالب العلمانو ترمنځ د علمي سیالیو په لاره اچول

یاد فعالیت د اصلاح شوي عملیاتي پلان له مخې حذف شوی.

1.1.4 لومړیتوب: د شهادت نامو وېش

4.1 فعالیت: د ثانویې او مافوق ثانویې دورو له طالب العلمانو څخه ازمویښه اخیستل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د وزارت مقام د هدایت پر بنسټ، د ثانویې او مافوق ثانویې دورې د طالب العلمانو څخه په 1404/10/6 هـ ش نیټه ازمویښه اخیستل شوې.

4.2 فعالیت: د حفظ او خامسه دورې فارغانو ته د فراغت د سندونو وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا اړوندو ولسوالیو په کچه ۴۰ تنو حافظانو او ۴۰ تنه د خامسه دورې طالب العلمانو ته د فراغت سندونه ویشل شوي دي.

1.1.5 لومړیتوب: د شهادت نامو چاپ او وېش

5.1 فعالیت: د عالیه دورې د شهادت نامو چاپ او وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له لورې د ۹ ولسوالیو اړوند 13 تنه د عالیه دورې فارغ علماءکرامو ته شهادتنامې چاپ او ویشل شوې دي.

1.2 مدرسې/ښوونکې/ښوونکی

1.2.1 لومړیتوب: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

1.1 فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او مدرسو ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت له خوا، د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لارښود د تطبیق په موخه، د ریاست د مرکزي مسلکي غړو، د ۴ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ۹۹ بابه دیني او خصوصي مدرسو په کچه اړیني لارښوونې ترسره شوې دي.

1.2 فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او دارالعلومونو او مدرسو ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت له خوا، د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لارښود د تطبیق په موخه، د ریاست د اسلامي زده کړو د مسلکي پراختیا ۴ تنو غړو، د ۴ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو، ۲ بابه دارالعلومونو او ۱۵۴ بابه دیني مدرسو په کچه اړیني لارښوونې ترسره شوې دي.

1.2.2 لومړیتوب: لومړی دورې/ اصول صنفي لپاره د مناسبو ښوونکو د ګمارلو لپاره لازمو تدبیرونه نیول

2.1 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو مدرسو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د لومړی دورې/ اصول صنفي لپاره د وړ ښوونکو د ګمارلو په موخه، د ټولو پوهنې امریتونو اړوند دارالعلومونو او مدرسو په کچه اړینې لارښوونې ترسره شوې دي.

2.2 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو دارالعلومونو او مدرسو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت له خوا، د لومړی دورې (اصول صنفي) لپاره د وړ ښوونکو د ګمارلو په موخه، د ریاست اړوند ۱۰ تنه علمي غړو او د ٦ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ۲ بابه دارالعلومونو او ۱۵۴ بابه دیني مدرسو ته اړینې لارښوونې ترسره شوې دي.

1.2.3 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو په تشو بستونو کې د رشتې سره سم د مسلکي مدرسینو په وخت ګمارل

3.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په تشو بستونو کې د رشتې سره سم د مسلکي مدرسینو د ګمارنې په موخه د کړنلارې سره سمې ازموینې اخیستل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې،، د نورستان پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت له لورې په تشو بستونو کې د ګمارنې په موخه ازموینه اخیستل شوې، چې ۱۰ تنه بریالي کسان خپل اړند مدرسو ته پیژندل شوي دي.

1.2.4 لومړیتوب: د علمي کادر اجرا کول

4.1 فعالیت: د دارالعلومونو د ښوونکو د علمي رتبې او علمي کادر اجرا کول

د 1404 هـ ش کال څلورمې ربعی تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند دارالعلومونو د ۳ بابه درالعلومونو څخه 22 تنه ښوونکو او مدرسینو د کدر جدول د اجرا په موخه اسلامي زده کړو معینیت سره شریک شوی دی، خو تر اوسه پورې د یادو کسانو منظوري د مرکز له خوا نه ده راغلې.

1.2.5 لومړیتوب: د نویو ګمارل شوو استادانو او مدیرانو د وړتیاوو لوړول او مسلکي پراختیا

5.1 فعالیت: په دارالحفاظونو او هغه مدرسو کې چې د حفظ د شعبو لرونکې دي د حفظ د ښوونکو لپاره د سمینار وړاندې کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند په دارالحفاظونو او هغه مدرسو کې چې د حفظ شعبې لري، د علمي غړو له لورې سمینارونه دایر شوي دي، چې په دې سره د ګډونوالو وړتیا په اړونده برخه کې لوړه شوې.

1.2.6 لومړیتوب: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا غړو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول

6.1 فعالی

ت: د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، اسلامي زده کړو او د ښونې او روزنې آمریت له لورې د د دې ریاست اړوند مرکزي هستې 6 تنه علمي غړو او د ولسوالیو اړوند مسلکي پراختیا ۱۰ تنه علمي غړو ته میتودیک ورکشاپ ورکړل شوی، چې په دې سره د مدرسینو وړتیاوې لوړې شوي، او د زده کړو کیفیت په ټولیزه توګه ښه شوی دی.

1.2.7 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو په ښوونیزو مرکزونو کې د مدرسینو او ښوونکو د ارزونې څېړنه

7.1 فعالیت: په ولایتونو او ولسوالیوکې د مسلکي پراختیا د غړو په واسطه د مدرسینو له ارزونې بررسي کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند 4 ولسوالیو مسلکي پراختیا غړو له لوري، 51 تنه نارینه ښوونکو او 5 تنه ښځینه ښوونکو ارزونه ترسره شوې ده؛ چې په دې سره د ښوونې او روزنې کیفیت ښه شوی دی او همدارنګه د ښوونکو علمي، عملي او تدریسي وړتیاوې پیژندل شوي، کمزورتیاوې یې معلومې شوي.

1.2.8 لومړیتوب: له ولایتونو څخه د راغلو راپورونو تحلیل او تجزیه

8.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا د غړو د راغلو راپورونو تحلیل او تجزیه کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند 9 ولسوالیو د (دمسلکي پراختیا) غړو له لوري د تیرو ۱۲ میاشتو راپورونه پوهنې ریاست ته رارسیدلي او د راپور ورکولو مسلکي غړو لخوا تحلیل او توحید شوي او وزارت مقام ته استول شوي دي، چې په دې سره د ښوونې او روزنې ستونزې، ننګونې، فرصتونه او پرمختګونه په دقیق ډول پېژندل شوي دي.

1.3 نصاب

1.3.1 لومړیتوب: د مرکز، ولایت او ولسوالۍ په کچه د ښوونیزکال له پیل مخکې د ښوونیزو مرکزونو د اداري کتابونو وېش

1.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د ۲۸ عنوانه تدوین شوو کتابونو تشریح او لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ۲۸ عنوانه لیکل شویو کتابونو په اړه، د ریاست مرکزي هستې د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري لارښوونې تر سره شوې دي، چې په ترڅ کې د یادو کتابونو په اړه 12 تنه ګډونوالو معلومات ترلاسه کړي.

1.3.2 لومړیتوب: د دیني مدرسو د ښوونیز نصاب مطابق د اسلامي زده‌کړو معینیت د ښوونیزو مرکزونو لپاره د درسي کتابونو پېرل

2.1 فعالیت: د دیني مدرسو د نصاب سره سم د درسي کتابونو وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، دیني کتابونو ته د لاسرسی په موخه، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري 37 بابه کلیوالی مدرسو ته 4311 ټوکه کتابونه ویشل شوي دي، چې په دې سره د کتابونو د کمښت ستونزه حل شوې.

1.4 ښوونیزه ارزونه

1.4.1 لومړیتوب: د علماء کرامو د اسنادو ارزونه او د سویې تثبیتول

1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د دوولسم او څوارلسم ټولګیو علمای کرامو د سویې تثبیتول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو امریت له لوري، د دولسم او څوارلسم ټولګي د معادل سندونو د تثبیت په موخه د 761 تنو ثانویه او مافو ق الثانویه ازموینه اخیستل شوې ده، چې په پایله کې د ٦٧٧ تنو سندونه تثبیت شوي دي، چې له دې ډلې څخه ۳۳۹ تنه د دوولسم ټولګي او ۳۳۸ تنو سندونه د څوارلسم ټولګي معادل دي.

1.4.2 لومړیتوب: د ولایتونو په کچه د ګډې ازموینې اخیستل

2.1 فعالیت: د ثانویه دورې (ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ګده ازمویته اخیستل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ثانویه دورې (ثالثه، رابعه او خامسه) ګډه ازمویته د پوهنې وزارت مقام د هدایت نشتون له امله نه ده اخیستل شوې.

2.2 فعالیت: د فوق ثانویه دورې (سادسه او سابعه) درجو ګډه ازمویته اخیستل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د اسلامي زده کړو معینیت له لورې د 38 تنه نارینه فارغانو څخه د سادسه او سابعه درجو په کچه ازمویته اخیستل شوې، چې پایله یې تر اوسه نه ده اعلان شوې.

1.5 ښوونیز چاپیریال

1.5.1 لومړیتوب: په مرکز او ولایتونو کې د مدرسو رامنځته کول

1.1 فعالیت: د نارینه طالب العلمانو لپاره د دیني مدرسو جوړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت په کچه، د نارینه طالب العلمانو لپاره دیني مدرسې د بودیجې نشتون له امله نه دي جوړې شوې.

1.5.2 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د رسمي مرکزونو رامنځته کول، د نوم بدلول، ارتقاء، د نوعیت بدلون او مُبیت رامنځته کول

2.1 فعالیت: په ۳۴ ولایتونو کې د لیلیو جوړول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د وزارت مقام له لورې د طالب العلمانو د نوې لیلیې د جوړیدو په اړه امر نه دی شوی.

2.2 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د نویو ښوونیزو مرکزونو تأسیسول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د مرکز له لورې، د اسلامي زده کړو د نویو ښوونیزو مرکزونو جوړولو په اړه لارښوونې نه دي ترسره شوې.

2.3 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوعیت بدلول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت په کچه، د اسلامي زده کړو آمریت له لورې، د 7 بابه مدرسو نوعیت له جامعې څخه مدرسې ته بدل شوی.

2.4 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوم بدلول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت په کچه، د اسلامي زده کړو معینیت له لورې، نورستان پوهنې امریتونو اړوند 7 مدرسو نومونه له جامعې څخه مدرسې ته بدل شوي.

2.5 فعالیت: د ارالعلوم ته د مدرسې لوړول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د دارالعلوم د معیارونو نه پوره کېدو له کبله هیڅ مدرسې دارالعلوم کچې ته ارتقاء نه ده کړې.

2.6 فعالیت: دارالعلوم ته د لوړلو په موخه د مدرسو بررسي کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، دارلعلوم ته د مدرسو لوړولو په موخه، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري 4 بابه مدرسې کتل شوې دي، د یادې کتنې په پایله کې تثبیت شو، چې کتل شوو مدرسو، دارالعلوم ته د لوړولو شرطونه پوره کړي دي.

1.6 د ټولنې ګډون

د اسلامي زده کړو پروګرام په دې برخه کې هیڅ ډول لومړیتوب یا فعالیت په عملیاتي پلان کې شامل نه دی.

1.7 مدیریت

1.7.1 لومړیتوب: د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل

1.1 فعالیت: د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو د ازموېنې اخیستل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو ازموېنه د خالی بستونو د نشتون له امله نه ده اخیستل شوې.

1.7.2 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تشکیلاتو د اړتیاوو د رفع کولو لپاره د بستونو وېش

2.1 فعالیت: هغه مرکزونو ته د بستونو لېږد او وېش چې ورته اړتیا لري

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو امریت اړوند دیني مدرسو ته چې کوم بستونه په واک کې ورکړل شوي وو؛ تنقیص شوي او نوی تشکیل نه دی ورکړل شوی.

1.7.3 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تأسیس لپاره د بستونو وېش

3.1 فعالیت: نویو تأسیس شوو ښوونیزو مرکزونو ته د بستونو لېږد او وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د اسلامي زده کړو نوې مدرسې نه دي تاسیس شوي، له همدې کبله یاد فعالیت ترسره شوی نه دی.

برنامه 2:ښوونه او روزنه

2.1 زده کوونکی

2.1.1 لومړیتوب: د ټول ګډونه شمولیت لپاره عامه پوهاوی او د زده کړو په شرایطو برابرو ماشومانو زده کړه

1.1 فعالیت: د 1405هـ ل کال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دایرولو په موخه د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، دولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو د شوراګانو لارښوونه؛

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان د پوهنې ریاست اړوند د مسلکي پراختیا غړو له لوري د زده‌کړې په شرایطو برابر ماشومانو د پراخ ګډون او زده‌کړې په موخه، د اړوند پوهنې امریتونو 216 بابه ښوونځیو ته د عامه پوهاوي په اړه لارښوونې ورکړل شوې دي، چې په دې سره د پوهې څخه د خلکو ملاتړ کچه لوړه شوې.

1.2 فعالیت: د مرکز، ولایتونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي د برنامې تدویرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د زده‌کړې د شرایطو وړ ماشومانو د پراخ ګډون او زده‌کړې د هڅونې په موخه، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا د ولایت په کچه 1، د ولسوالیو په کچه 8 او د ښوونیزو مرکزونو په کچه 216 د عامه پوهاوي غونډې ترسره شوې دي.

1.3 فعالیت: د ښوونځیو د شوراګانو له کړنو ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د 285 بابه ښوونځیو د شوراګانو له کړنو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده، چې په پایله کې د زده کړیزو چارو د ښه والي په موخه ورته سپارښتنې شوي او لازمې مشورې ورکړل شوې دي.

1.4 فعالیت: د سړو او تودو سیمو په ښلا ښلو برخو کې د عامه پوهاوي د برنامې دایرول او لارښوونې

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د سواد زده کړې مدیریت له لوري د اړوند پوهنې امریتونو د سواد زده کړې ښوونیز مرکزونو په کچه د پوهې څخه د ملاتړ د جلبولو په موخه د عامه پوهاوي غونډې دایر شوې دي، چې په پایله کې د زده کړو څخه د خلکو ملاتړ کچه لوړه شوې.

1.5 فعالیت: د غږیزو او انځوریزو رسنیو له لارې د عامه پوهاوي پیغامونو خپرول او د تبلیغاتي پانو او بروشرونو چاپ

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د سواد زده کړو مدیریت له لوري د زده‌کړو په شرایطو برابرو لویانو د پراخه شمولیت او زده‌کړې په موخه، د عامه پوهاوي یو، یو غږیز او انځوریز پیغامونه د نورستان راډیو تلویزیون له لارې خپاره شوي، همدارنګه ۱۰۰ تبلیغاتي پانې د اړوندو ولسوالیو د پوهنې په امریتونو کې خپرې شوې دي.

2.1.2 لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

2.1 فعالیت: په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې د زده کوونکو غیرحاضري او د زده کړو پرېښودل ۲ سلنه کموالی مومي

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د زده کوونکو د غیر حاضرۍ او د زده کړې پرېښودلو کچې کمولو لپاره د اساسی او ثانوی زده کړو مدیریت له لوری د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته متحد المال لیک استول شویدی، چې په پایله کې په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې د زده کوونکو د زده کړې پرېښودلو او ناسوبتیا کې ۲ سلنه کموالی راغلی.

یاد فعالیت د عملیاتي پلان له اصلاح وروسته لرې شوی.

2.2 فعالیت: د لومړنۍ دورې د جدید الشمولانو جذب

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري د عمومي زده کړو د ښوونځیو په لومړنۍ دوره کې ۴،٦۴۸ تنه جدید الشمول زده کوونکي جذب شوي دي، چې له دغې ډلې څخه ۲،۴۳۲ تنه نارینه زده کوونکي او ۲،۲۱٦ تنه ښځینه زده کوونکي دي، د لا زیاتو معلوماتو لپاره د 1 ګڼې ملپانې ته مراجعه وکړئ.

2.3 فعالیت: په لومړنۍ، منځنۍ او لېسې دورو کې د ټولګي او سویې د تثبیت ازموینې له لارې د مجاهدینو، راستنېدونکو او همدا رنګه د سوابقو راوړونکو او تر لندېمهاله ښوونو لاندې د جدیدالشمولانو جذبول.

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري، د ټولګي او سویې د تثبیت ازموینې له لارې په لومړۍ دوره کې 256 تنه، په منځنۍ دوره کې ٥٦٦ تنه او په لیسې دوره کې ۲۳۰ تنه جذب شوي دي.

2.4 فعالیت: د کوچیانو د جدیدالشمول زده کوونکو جذبول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د ولایت په کچه نه دی ترسره شوی، ځکه چې په نورستان ولایت کې کوچیان نلرو.

2.5 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د پوهنې د مرسته کوونکو مؤسسو په واسطه له ښوونځي څخه مخکې ښوونو کې د جدیدالشمولانو جذبول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د یونیسف نړیوالي مؤسسې له لوري د ښوونځي څخه مخکې ښوونو کې ۱،۰۸۰ تنه جدید الشمول زده کوونکي جذب شوي دي.

2.6 فعالیت: له پولې څخه بهر د ښوونیزو اسنادو د نه لرونکو را ستنېدونکو او مجاهدینو د ټولګي تثبیت

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري 190 تنه راستنېدونکو زده کوونکو او 40 تنه د مجاهدینو سویې تثبیت شوي، چې له دې ډلې ۴۰ تنه د ۱۱ ټولګي په کچه، ۱۷۰ تنه د ۹ ټولګي په کچه او ۲۰ تنه د ۸ ټولګي په کچه دي.

2.1.3 لومړیتوب: د زده کړو په شرایطو برابرو لویانو لپاره د شمولیت د زمینې برابرول

3.1 فعالیت: د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې سیمه کې د اړوندو مرکزونو په مرسته د ټولو د زده کړو په شرایطو برابرو لویانو لپست برابرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند سواد زده کړو مدیریت له لوري د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې په سړو او تودو سیمو اړونده مرکزونو کې د رسمي ښوونکو له لارې ۱،۵۵۷ تنه په شرایطو برابر لویان د سواد زده کړې په کورسونو کې شامل شوي دي.

3.2 فعالیت: د کوچیانو د په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د شرایطو وړ لویانو او کوچیانو د سواد زده کړې کورسونو کې د ګډون په اړه د پوهنې وزارت له لوري ځانګړی سهم نه دی ځانګړی شوی.

3.3 فعالیت: د مسجدونو د ملا امامانو له لارې د په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د جوماتونو ملا امامانو له لارې 120 تنه لویان د سواد زده کړې کورسونو کې جذب شوي دي.

3.4 فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو، سواد حیاتي او حرفوي ښوونځیو کې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د رسمي ښوونکو له لارې ۱،۵۵۷ تنه زده کوونکي د سواد زده کړې په مرکزونو کې زده کړې کوي.

3.5 فعالیت: د داخلي بېځایه شوو او راستنېدونکو شمولیت

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه یاد فعالیت د بودیجې او د ځانګړي سهم د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

2.1.4 لومړیتوب: د روغتیایي مرکزو په مرسته د جدیدالشمولانو د روغتیا په ځانګړې توګه د اورېدلو، لیدلو، ژامو، خولې، غاښونو او ساري ناروغیو د معایناتو څخه ډاډ ترلاسه کول

4.1 فعالیت: دجدیدالشمولانو له روغتیا څخه ډاډ ترلاسه کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند روغتیا مدیریت له خوا د روغتیایې مرکزونو په مرسته د 500 تنه جدیدالشمولانو روغتیایې حالت څخه په ځانګړې توګه د اورېدلو، لیدلو، ژامو، خولې، غاښونو او ساري ناروغیو معاینات ترسره شوي دي.

2.1.5 لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیو کې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو چینجیو د له منځه وړلو سراسري کمپاین

5.1 فعالیت :د روغتیایي تبلیغاتي موادو، حفظ‌الصحې، نظافت کیټونو او لومړنیو مرستو توکو وېش.

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د روغتیا مدیریت له لوري د ښاري پوهنې آمریت اړوند ښوونځیو ته د روغتیا ساتنې ۲ کیټونه ویشل شوي دي.

5.2 فعالیت: د ښوونځیو په کچه ټولو زده‌کوونکو ته د کولمو د چینجیو ضد تابلیتو وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت په کچه د روغتیا مدیریت له لوري د ۲۱۶ بابه ښوونځیو اړوند ۴۸،۵۱۸ تنه زده کوونکو ته د کولمو د چنجیو له منځه وړونکي (البندازول) ټابلیټونه ویشل شوي، چې په ترڅ کې نومورې زده کوونکي له روغتیایي خدماتو څخه برخمن شول.

2.1.6 لومړیتوب: د ښوونځیو په کچه د سیالیو په لاره اچول او د ورزشي څېړو پېژندل

6.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د غوره ټیمونو د ټاکلو په موخه په ښوونځیو کې د بهاري او خزاني مناسبتي او دوستانه سیالیو په لاره اچول

د۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د بودجې نشتون له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی

یاد فعالیت د عملیاتي پلان له اصلاح وروسته لرې شوی.

2.1.7 لومړیتوب: په خصوصي ښوونځیو کې د ښوونې او روزنې زمینه برابرول

7.1 فعالیت: د هغه زده‌کوونکو د درې‌کلنو نمرو ترتیبول او ژباړل چې د زده‌کړو د دوام په موخه له هېواد څخه بهر سفر کوي

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان د پوهنې ریاست د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیریت ته د هغو خصوصي زده‌کوونکو له لوري چې په بهر کې زده کړې کوي، د درې کلنو نمرو د ترتیب او ژباړې په موخه هېڅ مراجعه نه ده شوې.

7.2 فعالیت: د اړوندو قوانینو او لارښودونو سره سم د خصوصي زده‌کړو د زده‌کوونکو د تصدیق پاڼو اجرا کول.

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د خصوصي زده کړو زده کوونکو د تصدیق پاڼو اخېستلو لپاره چا مراجعه نه ده کړې.

7.3 فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د شهیدانو او معلولینو ورثه‌وو، یتیمو او بېوزله ماشومانو د فیس د تخفیف اجرا کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د اساسی او ثانوی زده کړو مدیریت له لوري د بلورستان ابتدائیه په خصوصي ښوونځي په مرسته د 5 تنه د شهیدانو او معلولینو ورثه وو، یتیمو او بېوزلو زده کوونکو ته په فیس کې تخفیف اجراء شوی دی.

2.1.8 لومړیتوب: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د علمي المپیادونو(سیالیو) او عملي پروژو دایرول

8.1 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې وزارت له لوري، د پوهنې ریاست د مرکزي هستې اړوند ساینس علمي مرکز غړو ته د یاد لارښود په اړه لارښوونې ترسره شوې دي.

8.2 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، ساینس مرکز مدیریت علمي غړو له لوری د ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د علمي سیالیو لارښوونې ترسره شویدی.

8.3 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، ولسوالیو پوهنې آمرینو او ښوونځیو مدیرانو له لوری د ښوونیزو مرکزونو په کچه د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د علمي سیالیو لارښوونې ترسره شویدی.

8.4 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو په کچه د علمي المپیادونو (سیالیو) او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت اړوند (ساینس مرکز مدیریت) له لوري په 12 بابه ښوونیزو مرکزونو کې د (ساینس المپیاد سیالۍ) تر عنوان لاندې 12 علمي سیالۍ جوړې شوې دي.

8.5 فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه د علمي المپادونو او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ساینس مرکز مدیریت علمي غړو له لوري، د اړوندو پوهنې آمریتونه په کچه د (ساینس المپیاد سیالۍ) تر عنوان لاندې 7 علمي سیالۍ جوړې شوې دي.

8.6 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د علمي المپیادونو او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ساینس مرکز مدیریت د علمي غړو له لوري، د (ساینس المپیاد سیالۍ) تر عنوان لاندې 1 علمي سیالۍ جوړه شوې ده او په یاده سیالی کې د مولوی میر عالم ناصح لیسې د دولسم ټولګي د یو تن زده کوونکی چې ریموټ کنټرول کښتۍ جوړه کړې وه، د پوهنې محترم وزارت ته معرفي شوی.

2.2 ښوونکی

2.2.1 لومړیتوب: د ورسپارل شوو دندو پرمخ وړلو په موخه د ساینس مرکز د مرکزي او ولایتي علمي غړو روزنه

1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ساینس مرکزونو د علمي غړو لپاره د ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ورسپارل شوو دندو د پرمخ وړلو په موخه، د ساینس مرکز ریاست له لوري د د دې ریاست اړوند ساینس مرکز مدیریت د ریاضی، فزیک او بیولوژی ۴ تنه علمي غړو ته 12 ورځنی سمینار دایر شوی، چې په دې سره د ګډونوالو علمي کچه په اړوند برخه کې لوړه شوې.

2.2.2 لومړیتوب: د رشتې خلاف او غیر مسلکي ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړل او مسلکي پراختیا

2.1 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکي جوړونې یو کلنې برنامې دایرول

د 1404 کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې، دنورستان ولایت په کچه د یادې برنامې په اړه د پوهنې محترم وزارت لخوا کوم هدایت نه دی شوی.

2.2. فعالیت: د رشتې خلاف او غیرمسلکي ښوونکو او ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابرانټانو د وړتیا لوړول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ۲۰ تنه د رشتې خلاف ښوونکو د ساینس مرکز عملي غړو له لوري روزل شوی دي.

2.2.3 لومړیتوب: د ساینس، ریاضیاتو اوکمپیوټر د ښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د لابرانټانو وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا

3.1 فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د ښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د لابرانټانو لپاره د ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لابرانټانو ظرفیت لوړولو په موخه د ساینس مرکز عملي غړو له لوری د شهری، کانتوا، او واما پوهنې آمریتونو اړوند ۳۰ ښوونکې او لابرانټ روزل شوي، چې له امله یې ښوونکو د خپلو مضامینو د تدریس نوی او مؤثړ طریقې زده کړې، د لابراتوار کارکونکو د دسایلو او تجربو سره ښه بلد شوی.

2.2.4 لومړیتوب: د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو حلولو لپاره د تدبیرونو نیول

4.1 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندلو په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند 10 ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د رشتې خلاف ښوونکو د پیژندلو په موخه لارښوونې ترسره شوې دي.

4.2 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو پېژندل او معلوماتو راټولول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند (پارون، کانتوا، واما، وانت، وایګل، کامدیش، برګمټال، نورګرام، دواب او منډول) ولسوالیو د پوهنې امریتونو په کچه 458 تنه د رشتې خلاف ښوونکي د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري پیژندل شوي او معلومات یې راټول شوي دي چې د ستونزو د حل په موخه ورته زده کړه ییزې حلقې جوړې شوې دي.

2.2.5 لومړیتوب: د موجودو مدرسانو، استادانو او ښوونکو د رشتې سره سم توظیف لپاره لازم تدبیرونه نیول

5.1 فعالیت: د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیف د لارښود تطبیق په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو کارکوونکو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ښوونکو د رزونې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د اړوند (پارون، کانتوا، واما، وانت، وایګل، کامدیش، برګمټال، نورګرام، دواب او منډول) ولسوالیو د پوهنې امریتونو په کچه، لارښوونې ترسره شوې دي.

5.2 فعالیت: د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیف د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ښوونکو د رزونې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د اړوند 10 ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه، د 216 بابه د عمومي زده کړو ښوونځیو 594 تنه د رشتې موافق ښوونکي پیژندل شوي دي، چې او لازم لارښوونې ورته شوي او همدا رنګه د رشتې په اساس ورته مضمونونه ورکړل شوي دي.

2.2.6 لومړیتوب: د اصولو صنفي لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف لپاره لازم تدبیرونه نیول

6.1 فعالیت: د جوړ شوي لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو پوهنې ریاستونو، ولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان پوهنې ریاست، (پارون، کانتوا، واما، وانت، وایګل، کامدیش، برګمټال، نورګرام، دواب او منډول) ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د 97 بابه ابتدائیه ښوونیزو مرکزونو په کچه د صنفي اصولو دورې لپاره د وړ ښوونکي د ګمارلو لارښود په اړه لارښوونې ترسره شوې دي.

6.2 فعالیت: د صنفي اصولو دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا د صنفي اصولو دورې لپاره د وړ ښوونکو د ګمارلو لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د 97 بابه ښوونځیو څخه ملاتړیزه څارنه ترسر شوي ده.

2.2.7 لومړیتوب: په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د مسلکي پراختیا د غړو د ګمارنې بشپړول او هغوی ته د ورسپارل شوو دندو د پرمخ وړلو لارښوونه کول

7.1 فعالیت: دولایتونو په کچه د مسلکي پراختیا د غړو د ګمارنې بشپړول

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه ۲۰ تنه د ښوونکو مسلکي پراختیا غړي چې له دې ډلې ۴ تنه د مرکزي هستې په کچه، 2 تنه د برګمټال، ۴ تنه د واما، 1 تن د کانتوا، ۲ تن د وانت، 3 تنه د منډول،

1 تن د نورګرام او 3 تنه د دواب پوهنې آمریتونو په کچه ګمارل شوي دي.

7.2 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د دندو د چوکاټ، دندو لایحو، ځارنیزو وسیلو، دافکارو د روښانه کولو او مسؤلیت منني په اړه د معرفتي او لارښودیزې ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا ریاست له لوري 66 تنه د ښوونکو مسلکي پراختیا غړو ته (د دندو د چوکاټ، دندو لایحو، ځارنیزو وسیلو، دافکارو د روښانه کولو او مسؤلیت منني په اړه د معرفتي او لارښوودیزې ښوونیزې) برنامې دایر شوې دي.

7.3 فعالیت: د مرکزي هستې او ولایتونو د علمي غړو لپاره د ښوونیز ترېننګ دایرول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه یاد فعالیت د پوهنې وزارت د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست له لوري 11 تنه د مرکزي هستې علمي غړو ته د ښوونې او زده کړې د اغیزمنې ودې په موخه، 9 ورځنی ورکشاپ ورکړل شوی دی.

2.2.8 لومړیتوب: د ښوونځیو د شورا د غړو لپاره د وړتیا لوړونې برنامو دایرول

8.1 فعالیت: د شوراګانو د ښوونیزې اداري د علمي غړو وړتیا لوړونه

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د اړوند پوهنې آمریتونو د شوراګانو 8 تنه علمي غړي د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست له لوري روزل شوي دي، چې په پایله کې د ګډونوالو وړتیا په اړونده برخه کې لوړه شوې.

8.2 فعالیت: د ښوونځیو د شورا د غړو وړتیا لوړونه

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د ۵۴ بابه ښوونځیو د شوراګانو ۳۷۷ تنه غړي د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست لوري روزل شوي دي، چې په پایله کې د ګډونوالو ظرفیت په اړونده برخه لوړ شوی.

2.2.9 لومړیتوب: د نویو ګمارل شوو ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا

9.3 فعالیت: د نویو ګمارل شوو ښوونکو لپاره د وړتیا لوړونې ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست له لوري ۵۵۷ تنه نوي ګمارل شوي ښوونکي چې له دې ډلې ۷۰ تنه ښځینه دي، د ظرفیت لوړولو په موخه روزل شوي.

9.4 فعالیت: د نویو ګمارل شوو سرښوونکو او مدیرانو لپاره د وړتیا لوړونې ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست له لوري ۱۲۲ تنه نوي ګمارل شوي سر ښوونکي چې له دې ډلې ١٦ تنه ښځینه دي سر ښوونکې او ۵۷ تنه نارینه مدیران او ۸ تنه ښځینه مدیران، د ظرفیت لوړولو په موخه روزل شوي.

2.2.10 لومړیتوب: د ښوونکو، زده‌کوونکو او کارکوونکو لپاره د وړتیا لوړونې زمینې برابرول

10.1 فعالیت: د ښوونکو لپاره د روغتیایي ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ښوونکو لپاره د روغتیایي ورکشاپونو په اړه د مرکز څخه کوم هدایت نه دی شوی، له همدې امله یاد فعالیت ترسره شوی نه دی.

10.2 فعالیت: د روغتیا مدیرانو لپاره د ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د روغتیا مدیرانو لپاره د روغتیایي ورکشاپونو په اړه د مرکز څخه کوم هدایت نه دی شوی، له همدې امله یاد فعالیت ترسره شوی نه دی.

2.2.11 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې ته د رضاکاره او افتخاري ښوونکو د جلب او جذب لپاره د سیمې د خلکو همکاري

11.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونکي د کموالي د رفع کولو لپاره د سیمې د خلکو په واسطه د غیر رسمي ښوونکو ګمارل او افتخاري تدریس

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د (مندول، نورګرام، برګمټال، کامدیش، وایګل، وما او ښاری پوهنې آمریتونو) ښوونیزو مرکزونو په کچه چې رسمي ښوونکي یې کم وو، د سیمې خلکو په ملاتړ 11 تنه نا رسمي ښوونکي ګمارل شوي دي.

2.3 نصاب

2.3.1 لومړیتوب: د اړوند مضمونونو په زده‌کړه کې د سیمه‌ایزو عیني تجربو او موادو څخه د ګټې اخیستل ترویجول

1.1 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د ساینس مرکزونو علمي غړو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ساینس مرکز علمي غړو ته د اړوند مضمونونو په زده‌کړه کې د سیمه‌ایزو عیني تجربو او موادو څخه د ګټې اخیستنې دودولو لپاره د وزارت مقام له لوري د تطبیق لارښود نه دی رالیږل شوی.

1.2 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه د اړوند مضمونونو په زده‌کړه کې د سیمه‌ایزو عیني تجربو او موادو څخه د ګټې اخېستنې دودولو لپاره د وزارت مقام له لوري د تطبیق لارښود نه دی را استول شوی.

1.3 فعالیت: رهنمود لارښود تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د اړوند مضمونونو په زده‌کړه کې د سیمه‌ایزو عیني تجربو او موادو څخه د ګټې اخېستنې دودولو لپاره د وزارت مقام له لوري د تطبیق لارښود نه دی را استول شوی.

2.3.2 لومړیتوب: د ښوونیز نصاب سره سم د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو بیا کتل او وېش یې

2.1 فعالیت: د ښوونکو او دارالعلومونو د مدرسینو لپاره له ۴ څخه تر ۱۲ ټولګي پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ښوونکو او دارالعلومونو اړوند مدرسینو ته د 4 څخه تر 12 ټولګي پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ۹۶ ټوکه د تجربو لارښود کتابونه، د ساینس مدیریت له خوا 61 بابه ښوونځیو ته ویشل شوي دي.

2.3.3 لومړیتوب: درسي مرستندویه موادو (د ریاضي، بیولوژي کیټونو، ښوونیزو چارټونو او ویډیوګانو) ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو د لاسرسي زمینه برابرول

3.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه د ولسوالیو/ ښوونیزو حوزو د پوهنې آمریتونو ته د مرستندویه درسي موادو لېږدول

د ۱۴۰۴ د څلورمې ربعې تر پای پورې،د پوهنې محترم وزارت څخه د ریاضي او بیولوژی کیټونه (د بیولوژی ۷ کیټونه ، ۸۰ بساط رنګه او ساده چارټونه، د ریاضي ۲۰ کیټونه ، ۹ پایې د لابراتوار میزونه، ۳۶ پایې د لابراتوار چوکۍ او ۱۳۷ قلم د لابراتوار کیمایی سامانونه) د سهم په له مخې د نورستان پوهنې ریاست ته راوړل شوي دي، خو د ښوونځیو د رخصتیدو له کبله پوهنې آمریتونو ته نه دي نه دی استول شوي.

3.2 فعالیت: د ولسوالیو/ښوونیزو حوزو د پوهنې آمریتونو څخه ښوونیزو مرکزونو ته د مرستندویه درسي موادو لېږدول

د ۱۴۰۴ د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مرکز ساینس ریاست له لوری د نورستان پوهنې ریاست سهم راوړل شوی دی خو د ښوونځیو د رخصتیدو له کبله پوهنې امریتونو ته نه دی ویشل شوی.

3.3 فعالیت: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د مرستندویه درسي موادو وېش

د ۱۴۰۴ د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مرکز ساینس ریاست له لوری د نورستان پوهنې ریاست سهم راوړل شوی دی خو د ښوونځیو د رخصتیدو له کبله پوهنې امریتونو ته نه دی ویشل شوی.

2.3.4 لومړیتوب : دکمښتو کتابونو چاپ او د اصولو صنفي دورې ته یې په متوازن ډول وېش په ځانګړې توګه اساسي مضمونونه

4.1 فعالیت: د درسي کتابونو دکمښت رفع کولو په اړه د مرکز او ولایتي ریاستونو او ښکېلو اړخونو سره همغږي او اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند کتابونو د ویش مدیریت له خوا د ټولو ولسوالیو پوهنې امریتونو سره په همغږۍ، د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې د ۳۰ ټوکه درسي کتابونو د اړتیا راپور ترتیب او د پوهنې وزارت سره رسماً شریک شوی دی.

2.3.5 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د بدني روزنې د ودې او پراختیا په موخه د بدنې روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب وېشل

5.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب وېشل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د بدني روزنې د ودې په موخه د نشراتو مدیریت له لوري 50 ټوکه د بدني روزنې کتابونه ویشل شوي دي.

2.3.6 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونه

6.1 فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونو اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند سواد زده کړې مدیریت له لوري د 10 ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د سواد زده کړې د کورسونو د کتابونو اړتیاوې سنجول شوي، په ترڅ کې جوته شوې چې یاد کورسونه 855 سټې د سواد زده کړې کتابونو ته اړتیا لري.

2.4 ښوونیزه ارزونه

د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان کې کوم فعالیت او یا هم اولویت په دې برخه کې شامل نه ده.

2.5 ښوونیز چاپېریال

2.5.1 لومړیتوب: په ښوونیزو مرکزونو کې د لابراتوارونو او کمپیټر لبونو جوړول او تجهیزول

1.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د لابراتوارونو د جوړولو او تجهیز په موخه اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان پوهنې ریاست د ولسوالیو پوهنې امریتونو اړوند 10 بابه ښوونیزو مرکزونو کې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د لابراتوارونو د جوړولو او تجهیز په موخه اړتیاوې سنجول شوې دي، د یادې سنجونې په پایله کې د 10 ټوکه د ریاضي کیټونو، 10 ساینسي کیټونو او 10 بابه لابراتوارونو د جوړولو او تجهیزولو اړتیا معلومه شوې.

1.2 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د لابراتوارونو جوړول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست له لوري د ساینس او ریاضیاتو دلابراتوارونو جوړولو په موخه، د پوهنې محترم وزارت ته وړانده دی ز شوی، خو د یاد وزارت له لوري کوم اجراآتنه دی نه دي شوي.

1.3 فعالیت: په سامانونو او لابراتواري موادو د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټرلبونو تجهیزول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د اشټوی، پشکی او واما د هلکانو لیسو لابراتوارونه د ساینس مدیریت له لوري تجهیز شوي.

2.5.2 لومړیتوب: د ادارو په دیپوګانو کې د ګټې اخیستنې وړ منابعو (درسي کتابونه، میز او چوکۍ، توره تخته، مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه، فرش او خیمه، وسایط، وسایل، تجهیزات او لابراتواري موادو) پېژندل او د هغې متوازن وېش

2.1 فعالیت: د اړوندو ادارو په دیپوګانو کې د وسایلو، تجهیزاتو او لابراتواري موادو پېژندل او په ښوونیزو مرکزونو کې د ګټې اخیستنې لپاره یې متوازن وېش

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښار پوهنې آمریت اړوند مرکزي لابراتوار او د کانتوا پوهنې آمریت اړوند شیخ محمد ابراهیم لیسې د لابراتوار 23 قلمه د پیولوژي توکي پیژندل شوي، خو لا ویشل شوي نه دي.

2.5.3 لومړیتوب: د بې ښوونکو ټولګیو لپاره لازم تدبیرونه نیول

3.1 فعالیت: د بې ښوونکي درسي ټولګیو پېژندل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان پوهنې ریاست د 10 ولسوالیو پوهنې امریتونو اړوند د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د عمومي زده کړو ۴۹۵ بابه ښوونځیو له ټولګیو څخه ارزونه ترسره شوې، چې له دغې جملې څخه ۲۱۶ بابه بې ښوونکي درسي ټولګي پیژندل شوي دي.

3.2 فعالیت: د هغه ښوونیزو مرکزونو پېژندل چې پر ښوونکي یې د زده‌کونکي نسبت د ټاکل شوي نورم نه ټیټ وي

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا په اړوندو ولسوالیو د 60 بابه ښوونځیو د ښوونکوکمښت لرونکي ټولګیو احصائیه راټوله شوې، چې د ټاکل شوي نورم مطابق ښوونکي نه لري.

3.3 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د پوهنې وزارت له لوري د لارښود تطبیق لپاره اړینې لارښوونې نه دي ترسره شوې.

3.4 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د پوهنې وزارت له لوري د لارښود تطبیق لپاره اړینې لارښوونې نه دي ترسره شوې.

3.5 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د پوهنې وزارت له لوري لارښود نه دی را استول شوی.

3.6 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د لارښود تطبیقول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د پوهنې وزارت له لوري لارښود نه دی را استول شوی.

3.7 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو د راپور له وړاندې کولو څخه وروسته د بې له ښوونکي ټولګیو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکي د برابرولو په موخه د کارکوونکو چارو له عمومي ریاست سره همغږي

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ښوونکو د مسلکي پراختیا علمي غړو له لورې د پې ښوونکو ټولګیو احصایه راټوله او د وزارت سره شریکه شوې ده.

2.5.4 لومړیتوب: په ازاده فضا کې ټولګیو لپاره د لازمو تدبیرونو نیول

4.1 فعالیت: د هغه ښوونځیو پېژندل چې په آزاده فضا کې د ټولګیو لرونکي وي او هغه ټولګي چې په آزاده فضا کې قرار لري

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، دد دې ریاست اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا د اړوند ولسوالیو په کچه، 123 بابه ښوونځي پیژندل شوي دي، چې ودانۍ نه لري او همدارنګه 311 درسي ټولګي په ازاده فضاء کې قرار لري.

4.2 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د پوهنې وزارت له لورې د لارښود تطبیق لپاره اړینې لارښوونې نه دي ترسره شوې.

4.3 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د لارښود تطبیق لپاره اړینې لارښوونې د وزارت له لورې نه دي ترسره شوي.

4.4 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د لارښود تطبیق لپاره اړینې لارښوونې د وزارت له لورې نه دي ترسره شوي.

4.5 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د لارښود تطبیقول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان پوهنې ریاست ته د وزارت له لورې لارښود نه دی را استول شوی.

4.6 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو د راپور له وړاندې کولو څخه وروسته د بې له ودانیو ښوونځیو لپاره د ښوونیزو چاپېریال لکه (خېمه او د ودانیو په کرایه نیول) د برابرولو په موخه له اړوندو ریاستونو سره همغږي کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو د راپور وړاندې کولو څخه وروسته د 123 بابه بې ودانیو ښوونځیو او همدارنګه 311 بابه بې ودانیو ټولګیو لپاره د خیمو برابرولو په موخه د یونیسیف نړېوالې موسسې سره همغږي ترسره شوې ده.

2.5.5 لومړیتوب: د اصول صنفي دورې په ځانګړې توګه لومړي ټولګي ته د بهترین ټولګي ځانګړي کولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

5.1 فعالیت: د اصول صنفي په دوره کې د ښوونکو د توظیف لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند 10 ولسوالیو پوهنې امریتونو اړوند د 97 بابه لومړنیو ښوونځیو په کچه، د صنفي اصولو دورې د ښوونکو د ګمارنې لارښود له تطبیق څخه د ښوونکو مسلکي پراختیا غړو

له لوري ۱۰۰ ٪ ملاتړيزه ځارنه ترسره شوې ده، چې په پايله کې د صنفی اوصولو دورې وړ ښوونکي ګمارل شوي دي.

5.2 فعاليت: د لارښود تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د صنفي اصولو د غوره ټولګيو برابرولو د لارښود تطبيق په موخه، د نورستان پوهنې رياست په مرکزي هسته کې د پوهنې وزارت له لوري اړينې لارښوونې ترسره شوې دي.

5.3 فعاليت: د لارښود تطبيق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمريتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د صنفي اصولو د غوره ټولګيو برابرولو لارښود تطبيق په موخه، د اساسی او ثانوی زده کړو مديريت له لوري د ياد پوهنې رياست اړوند (د پارون، کانتوا، واما، وانت، وايګل، کامديش، برګمټال، نورګرام، دواب او منډول) پوهنې امريتونو کې له لوري اړينې لارښوونې ترسره شوې دي.

5.4 فعاليت: د لارښود تطبيق لپاره ښوونيزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د صنفي اصولو د غوره ټولګيو رامنځته کولو لارښود تطبيق په موخه، د ياد پوهنې رياست اړوند ښوونځيو کې د ولسوالیو پوهنې آمريتونو له لوري اړينې لارښوونې ترسره شوې دي.

5.5 فعاليت: په ښوونيزو مرکزونو کې د لارښود تطبيقول

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې پوهنې رياست اړوند ۱۰۳ بابه لومړنيو ښوونځيو کې د مديرانو له لوري د صنفي اصولو د غوره ټولګيو برابرولو لارښود پلي شوی دی، چې په پايله کې د صنفي اصولو دورې ته وړ ښوونکي ګمارل شوي دي.

2.5.6 لومړيتوب: د ښوونيز کال له پيل سره د ښوونيزو مرکزونو د ښوونيزو فعاليتونو (بې له وقفې) پيلولو لپاره لازم تدبيرونه نيول

6.1 فعاليت: د ښوونيز کال له پيل سره په ښوونيزو مرکزونو کې د ښوونيزو فعاليتونو له پيل څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړيزه ځارنه

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان پوهنې رياست د ښوونې او روزنې امريت اړوند 9 ولسوالیو د ښوونکود روزنې او مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري د 216 بابه د عمومي زده کړو ښوونځيو په کچه، د ښوونيزو فعاليتونو د پيل څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه ملاتړيزې ځارنې ترسره شوې دي، چې په پايله کې د وخت نه ضايع کيدو او د نصاب بشپړيدو لپاره ښه زمينه مساعده شوې ده.

6.2 فعاليت: د ښوونيز کال له پيل څخه مخکې د درسي کتابونو او مرستندويه درسي موادو د وېش له پروسې څخه ملاتړيزه ځارنه

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د اړوند 10 ولسوالیو د ښوونکو مسلکي پراختيا علمي غړو له خوا د 216 بابه د عمومي زده کړو ښوونځيو په کچه، د ښوونيز کال له پيل څخه مخکې د درسي کتابونو او مرستندويه درسي موادو د وېش له پروسې څخه ملاتړيزه ځارنه تر سره شوې ده.

6.3 فعاليت: د لارښود تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د وزارت له لورې د لارښود تطبیق په اړه لارښوونې نه دي ترسره شوې.

6.4 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د وزارت له لورې لارښود نه دی را استول شوی.

6.5 فعالیت: د لارښود تطبیق لپار ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د وزارت له لورې لارښود نه دی را استول شوی.

6.6 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو د لارښود تطبیقول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د وزارت له لورې لارښود نه دی را استول شوی.

2.5.7 لومړیتوب: حد اکثر په دوو وختونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم لپاره د لازمو تدبیرونو نیول

7.1 فعالیت: د هغه ښوونځیو پېژندل چې له دوو څخه د زیاتو درسي وختونو لرونکي دي

یاد فعالیت د دې ولایت په کچه د پلي کېدو وړ نه دی، ځکه د نومورې ولایت په کچه له دوو څخه د زیاتو درسي شفټونو لرونکي ښوونځي نشته.

7.2 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د وزارت له لورې د لارښود تطبیق په اړه لارښوونې نه دي ترسره شوې.

7.3 فعالیت: دلارښود تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د وزارت له لورې لارښود نه دی را استول شوی.

7.4 فعالیت: دلارښود تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د وزارت له لورې لارښود نه دی را استول شوی.

7.5 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د لارښود تطبیقول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د وزارت له لورې لارښود نه دی را استول شوی.

2.5.8 لومړیتوب: د هېواد په کچه د ښوونې او زوزنې زمینه برابرول او د ښوونځیو متوازن کول

8.1 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د نویو جوړ شوو ښوونځیو رامنځته کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د تشکیل نشتون له امله نوی ښوونځی نه دی ایجاد شوی.

8.2 فعالیت: د هغه کلیو او سیمو تشخیصول چې ماشومان یې د واټن او نورو جغرافیایی ستونزو له امله له زده‌کړو بې برخې پاتې دي او د هغوی لپاره د بدیلو خدمتونو برابرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت اړوندو ولسوالیو ته د سفر کولو د امکاناتو د نشتون له کبله یاد فعالیت ترسره شوی نه دی.

8.3 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د دولتي او خصوصي ښوونځیو او کورسونو د نوم بدلون

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د دولتي او خصوصي ښوونځیو او همدارنګه د کورسونو د نوم بدلون لپاره چا مراجعه نه ده کړې.

8.4 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د خصوصي ښوونیزو مرکزونو (ښوونځیو او کورسونو) د نوم تاییدول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د خصوصي ښوونیزو مرکزونو (ښوونځیو او کورسونو) د نوم تاییدولو لپاره چا مراجعه نه ده کړې.

8.5 فعالیت: د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تأسیس او لوړاوي کړنلارې د شرایطو د نه بشپړېدو په صورت کې د دولتي ښوونځیو مدغمول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت ته د ښوونیزو مرکزونو د درسي شعبو د ادغامولو په اړه راپور نه دی استول شوی.

8.7 فعالیت: د ولایتونو په کچه د اقلیم تغیر شوو ښوونځیو ثبت او تایید

یاد فعالیت د نورستان د پوهنې ریاست په عملیاتي پلان کې نشته.

8.8 فعالیت: د یوې ولسوالی/ښوونیزې حوزې په کچه د بست دکمښت او اړتیا په صورت کې له یوه ښوونځي نه بل ښوونځي ته د اضافه زمره بستونو لېږدول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د بستونو کمښت ستونزې د حل په موخه، د اساسي او ثانوی زده کړو مدیریت له لوري کامدیش انجونو لیسې 4 بستونه د پیړوک هلکانو منځني ښوونځي ته لېږدول شوي دي.

2.5.9 لومړیتوب: د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو د ښه‌والي او ودانۍ جوړلو په موخه د ستونزو پېژندل

9.1 فعالیت: د اړتیا او لازم ګڼلو په صورت کې د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د منازعې وړ پروژو له چارو څخه لیدنه او همغږي

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د عمومي زده‌کړو ښوونځیو په پروژو کې شخړه نه ده رامنځ ته شوې.

9.2 فعالیت: د پروژو د تطبیق په موخه د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د ودانیزو پروژو د اړتیاوو راټولول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د ودانیزو پروژو د اړتیاوو راټولولو په اړه کوم اجراآت نه دی نه دي ترسره شوي، ځکه چې د بودیجېکمښتکمښت له امله د ولسوالیو پوهنې امریتونو ته د سفر اجازه نه ده ورکړل شوې.

9.3 فعالیت: د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د هغه ودانیزو پروژو په اړه چې د سیمې د اوسېدونکو د غوښتنلیکونو له لارې دې اداري ته راغلې دي له ښکېلو ادارو سره همغږي

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د ودانیزو پروژو په اړه د سیمې د اوسېدونکو غوښتنلیکونه نه دي راغلي.

9.4 فعالیت: د عمومي زده‌کړو د جدید التآسیس، ارتقایي او نورو ښوونځیو چې ودانۍ (دیوال، احاطې، تشنابونو، د پاکو اوبو څاه) ته اړتیا لري د ودانیزو پروژو د ستونزو په اړه له ښکېلو اړخونو، مرکزي او ولایتي ریاستونو سره همغږي

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه یاد فعالیت په اړه کوم اجراآت نه دي ترسره شوي، ځکه چې د بودجېکمښت له امله د ولسوالیو پوهنې امریتونو ته د سفر اجازه نه ده ورکړل شوې.

2.5.10 لومړیتوب: د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د ساحو زرغونول

10.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د ښوونځیو د ساحو د زرغونتیا په موخه د نیالګیو او ګلانو کښېنول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د مالي امکاناتو نشتون له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

2.5.11 لومړیتوب: د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د ساحو نظافت او پاکول

11.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د نظافت په موخه د حشر کارونه په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د څارندوی مدیریت له خوا د اړوندو ولسوالیو د ښوونځیو د پاکوالي په موخه په ۲۱۶ بابه ښوونځیو کې د حشر کارونه په لاره اچول شوي دي.

2.5.12 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو د میدانونو او لوبغاړو احصائیه ترتیبول

12.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د بېلابېلو رشتو د لوبغاړو او لوبو د میدانونو د احصائیې را ټولول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې،یاد فعالیت د د دې ریاست اړوند بدني روزنې مدیریت له خوا د بودیجې کمبالې او ولسوالیو ته د سفر امکان نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

2.5.13 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې کورسونو جوړول

13.1 فعالیت: د رسمي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو جوړول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند سواد زده کړې عمومي مدیریت له لورې په سړو او تودو سېمو کې د رسمي ښوونکو له لارې 96 بابه د سواد زده کړې کورسونه جوړ شوي دي، چې د دې کورسونو په جوړیدو سره د بې سواده کسانو لپاره د لیک او لوست زمینه مساعده شوې او د ګډونوالو علمي ظرفیت لوړ شوی او د ټولنې د پوهې کچه لوړه شوې ده.

13.2 فعالیت: د ملا امامانو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو جوړل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ملا امامانو له لورې د 3 پوهنې امریتونو اړوند 4 بابه د سواد زده کړې کورسونه رامنځته شوي دي.

13.3 فعالیت: د راستنېدونکو او بېځایه شوو لپاره د سواد زده‌کړې کورسونو جوړول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد فعالیت د ترسره کولو په موخه، د پوهنې وزارت له لورې د دې پوهنې ریاست ته کافي بودیجه نه ده ځانګړې شوې.

13.4 فعالیت: د کوچیانو لپاره د قراردادي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو جوړول

د ۱۴۰۴ کال نورستان ربعې تر پای پورې، د یاد فعالیت ترسره کولو لپاره د وزارت له لورې د نورستان پوهنې ریاست ته ځانګړې سهم او بودیجه نه ده ورکړل شوې.

2.5.14 لومړیتوب: خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو ته جواز ورکونه، اعتبار ورکونه او پراختیا

14.1 فعالیت: په ټول هېواد کې د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونه تآسیسول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د خصوصی ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو تاسیسولو لپاره چا مراجعه نه ده کړې.

14.2 فعالیت: دخصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو د جوازونو تمدید او اعتبار ورکونه

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو د جوازونو تمدید او اعتبار ورکونې لپاره چا مراجعه نه ده کړې.

14.3 فعالیت: د لومړنۍ څخه منځنۍ او لېسه دورو ته د خصوصي ښوونځیو لوړوالی

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه ټولو خصوصي ښوونځیو د لومړنۍ دورې څخه منځنۍ دورې ته او د منځنۍ دورې څخه لېسې دورې ته د خصوصي ښوونځیو د لوړوالي شرطونه نه دي پوره کړي.

2.6 د ټولنې ګډون

2.6.1 لومړیتوب: د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د ملي ورځو په مناسبت د ورزشي نمانځغونډو په لاره اچول

1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د ملي ورځو په مناسبت د ورزشي نمانځغونډو په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د بودیجې کمښت له امله نه دی ترسره شوی.

2.6.2 لومړیتوب: د پوهنې نظام د سواد زده‌کړې برخې د پراختیا لپاره د ټولنې د ګډون جلبول

2.1 فعالیت: د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د سواد زده‌کړې برنامې لپاره د سرچینو د بسیجولو د لارښود په اړه اجراآت او لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان پوهنې ریاست، ولسوالیو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د سواد زده‌کړې برنامې لپاره د سرچینو د بسیجولو لارښود پوهنې وزارت له لورې نه دی را استول شوی.

2.3 فعالیت: د سواد زده‌کړې ښوونیزې برنامې د ښه تطبیق لپاره د ملي او سیمه‌ایزو سرچینو پېژندنه، جلب، جذب او ملاتړ

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د سواد زده کړې مدیریت له لورې په 10 ولسوالیو کې د ښوونیزو برنامو د ښه تطبیق په موخه، د ولایت په کچه 1، د ولسوالیو په کچه 10 او د کلیو په کچه 45 غونډې ترسره شوې دي، همدارنګه د یاد پروګرام د ښه تطبیق په موخه ۲۰ کمیټې هم جوړې شوې دي.

2.4 فعالیت: د سیمې د خلکو په واسطه د سواد زده‌کوونکو، ښوونکو او نمونه کارکوونکو مادي او معنوي هڅونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند په 4 ولسوالیو کې ۳۰ تنه د سواد زده کوونکي، 6 تنه د حیاتي سواد ښوونکي، 1 تن د حیاتي سواد کارکوونکی او 5 تنه د پوهنې اړوند رضاکاران د سیمې د خلکو له خوا تشویق شوي دي.

2.7 مدیریت

2.7.1 لومړیتوب: د هغه زده کوونکو لپاره چې د هېواد او له هېواد څخه بهر ښوونځیو کې د زده‌کړو د دوام غوښتونکي دي د ښوونې او روزنې د زمینې برابرول

1.1 فعالیت: د زده کوونکو د ترانسکریپټ ترتیبول او ښوونیزو سوابقو له پراوونو تیرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه نوموړی فعالیت د مراجعینو نه شتون له کبله ترسره شوی نه دی.

2.7.2 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د څارندوی او څارنجونو د ټیمونو د نظم او دسپلین څارنه او بیاکتنه

2.1 فعالیت: د ښوونځیو د دسپلین له نظم څخه څارنه او د مرکز او ولایتونو د څارندوی او څارنجونو د ټیمونو د فعالیت څېړنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د څارندوی مدیریت له لوري د دوه ولسوالیو د پوهنې امریتونو اړوند د ۴ بابه ښوونځیو له دسپلین څخه څارنه ترسره شوې ده.

2.7.3 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د ورزشي امکاناتو برابرول

3.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو د اړتیا وړ ورزشي توکو برابرول او ویشل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ښوونځیو لپاره ورزشي کڅوړې د وزارت له لوري نه دي را استول شوې.

2.7.4 لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیوکې د کولمو د چنجیو د محوه کولو د کمپاین پلي کول

4.1 فعالیت: د هېواد په ښوونځیوکې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو د محوه کولو کمپاین د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت د روغتیا مدیریت له لوري په۱۴۹ بابه ښوونځیو کې د کولمو چنجیو د له منځه وړلو کمپاین په لاره اچول شوی، چې ۴۸،۵۱۸ زده کوونکي ترې برخمن شوي دي.

2.7.5 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په کچه د څارندوی او څارنجونو د ګروپونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

5.1 فعالیت: د څارندوی د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند په کچه، د څارندوی د لارښود د تطبیق په اړه د پوهنې وزارت له لوري لارښوونې نه دي ترسره شوې.

2.7.6 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د څارندوی د ترافیکو د ټیمونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

6.1 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ښوونځیو کې د څارندوی د ترافیکي ټیمونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود تطبیق په اړه د پوهنې وزارت له لوري لارښوونې نه دي ترسره شوې.

2.7.7 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د څارندوی د اطفائي ټیمونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

7.1 فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ښوونځیو کې د څارندوی د اطفائي ټیمونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود تطبیق په اړه د پوهنې وزارت له لوري لارښوونې نه دي ترسره شوې.

2.7.8 لومړیتوب: د راپورونو تحلیل او توحید او له اړوندو مراجعو سره یې شریکول

8.1 فعالیت: د ولایتي ترسره شوو راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول

یاد فعالیت د مرکز اړوند دی.

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د ښوونې او روزنې آمریت له لوري، د اساسی او ثانوی عمومی مدیریت، د مسلکي پراختیا دیپارټمنټ او د ساینس مدیریت څخه راپورونه راټول او اړوندو مراجعو سره یې شریک کړي.

2.7.8 لومړیتوب: د ښوونځي په کچه د مخدره توکو د زیانونو پوهاوی ورکول

8.2 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د مخدره موادو څخه د ګټې اخیستنې او ضررونو پر ضد پوهاوي ورکونې پیغامونو تهیه کول او ترتیبول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست د څارندوی مدیریت له خوا د ولسوالیو اړوند په ۴۵ بابه ښوونځیو کې ۱،۲۰۰ تنه زده کوونکو ته د مخدره موادو څخه د ګټې اخیستنې د زیانونو په اړه د پوهاوی پیغامونه ترتیب او وړاندې شوي دي.

2.7.9 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې د پایلې ورکوونکو خدمتونو د برابرولو په موخه د سواد زده‌کړې برنامې د سیمه‌ایزه کارکوونکو د وړتیا لوړولو ورکشاپ دایرول

9.1 فعالیت: د سواد زده‌کړې د دقیق راپور وړاندې کونې په موخه د راپور ورکونې او دیتابیس ورکشاپ دایرول او د دې ریاست په دیتابیس کې د سواد زده‌کړې برنامې د احصائیې او شمېر درجول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د سواد زده‌کړې د دقیق راپور وړاندې کونې په موخه، د سواد زده کړې ریاست له لوري د دې ولایت په کچه 1 ورکشاپ دایر شوی، چې 2 تنه تړې برخمن شوي دي.

2.7.10 لومړیتوب: تر اثر لاندې ریاستونو د پلانونو له تطبیق څخه څارنه، ملاتړ او ډاډ ترلاسه کول

10.1 فعالیت: د ولایتونو د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا مرکزونو او ساینس مرکزونو څارنه او ارزونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست له لوري، د د دې ریاست اړوند (د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا) مرکزونو له چارو څخه څارنه ترسره شوې، او اړینې لارښوونې ورته شوې دي.

2.7.11 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټر لبونو له چارو ملاتړیزه څارنه

11.1 فعالیت: د امارتي او خصوصي ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټر لبونو له چارو څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د ساینس مرکز علمي غړو له خوا د ۸ بابه د عمومي زده کړو د مرکزونو د لابراتوارونو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

2.7.12 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د ښوونکو او سرښوونکو د تدریس له بهیر څخه لیدنه او حمایویی څارنه او د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا ټیمونو د کړنو له ترسره کولو څخه د ډاډ ترلاسه کول

12.1 فعالیت: د مرکزي هستې او ولایتونو د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا مرکزي هستې علمي غړو له لوري د ۳ ولسوالیو د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له ټیمونو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده او د ولایت په کچه ملاتړیزه څارنه د وزارت له لوري نه ده ترسره شوې.

12.2 فعالیت: د عمومي زده‌کړو او سواد حیاتي ښوونځیو او سواد زده‌کړې کورسونو څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا مرکزي هستې او ولسوالیو علمي غړو له خوا په 10 ولسوالیو کې 613 بابه د عمومي زده کړو له ښوونځیو او د 251 بابه د سواد زده کړې کورسونو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

12.3 فعالیت: د ښوونیز کال په جریان کې لږ تر لږه څلور ځلې د رشتې سره سم د ښوونکو د تدریس له جریان څخه لیدنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا مرکزي هستې او ولسوالیو علمي غړو له خوا د 10 ولسوالیو اړوند رشتې سره سم ۲،۲۹۶ تنه ښوونکو د تدریس له جریان څخه لیدنه ترسره شوې ده.

12.4 فعالیت: د ښوونیز کال په جریان کې لږترلږه څلور ځلې د سرښوونکو او مدیرانو د مسلکي کړنو له جریان څخه لیدنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا مرکزي هستې علمي غړو له خوا په اړوند ولسوالیو کې د 238 تنه سر ښوونکو او 401 تنه مدیرانو د مسلکي کړنو له جریان څخه لیدنه ترسره شوې ده.

12.5 فعالیت: د ولایتونو په کچه د ترسره شوو څارنو او لیدنو څخه د علمي راپورونو تحلیلول، توحیدول او وړاندې کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی څکه چې نوموړی فعالیت د مرکز اړوند دی.

2.7.13 لومړیتوب: د په شرایطو برابرو ماشومانو د شمولیت له جریان څخه ملاتړیزه څارنه

13.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د په شرایطو برابرو ماشومانو د شمولیت له جریان څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د 216 بابه د عمومي زده کړو ښوونځیو په کچه، ۴،۷۴۵ تنه په شرایطو برابرو ماشومانو د ګډون له جریان څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

2.7.14 لومړیتوب: د خصوصي ښوونځیو د فعالیت لپاره د قانوني او با کیفیته زمینې برابرول

14.1 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د ستونزو او شخړو بررسي کول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د خصوصي ښوونځیو د ستونزو او شخړو څېړلو په موخه د وزارت له لوري کوم ټیم نه دی راغلی.

2.7.15 لومړیتوب: تصدیق پاڼو ته د اعتبار ورکونې او ځانګړو معلوماتو را ټولونې ستونزو ته رسیدنه

15.1 فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو کې د زده‌کوونکو د چارو ستونزو ته رسېدنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو په کچه د زده کوونکو په چارو کې کومه ستونزه نه ده رامنځته شوې.

15.2 فعالیت: د خصوصي کورسونو د زده‌کوونکو تصدیق پاڼو ته اعتبار ورکونه او په دیتابیس کې یې ثبتول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د خصوصي کورسونو د زده‌کوونکو تصدیق پاڼو د ثبت لپاره ځانګړي ډیټابیس نه لرو.

2.7.16 لومړیتوب: په خصوصي ښوونځیو کې د تدریس د کیفیت لوړولو ته زمینه برابرول

16.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو بېلګه‌ایز کنترول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د خصوصی زده کړو ریاست څخه راغلی دوه تنه کارمندانو له لوري، 1 باب خصوصي ښوونځی او 1 باب خصوصي کورس د کیفیت لوړولو په موخه کنټرول شوي دي.

16.1 فعالیت: د هغو ښوونځیو پېژندنه او تقدیرول چې ښوونیز معیاري خدمات وړاندې کوي

یاد فعالیت د عملیاتي پلان له اصلاح وروسته لرې شوی.

2.7.17 لومړیتوب: د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا برنامو، د سواد زده‌کړې طرحې او له مرستندویه مؤسسو سره د تفاهم لیکونو د تطبیق څخه څارنه او لیدنه

17.1 فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامو د اغیزمنتوب او پراختیا د طرحې له تطبیق څخه څارنه

یاد فعالیت د عملیاتي پلان له اصلاح وروسته لرې شوی.

17.2 فعالیت: د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا د ظرفیت لوړونې د تطبیق شوو برنامو له اغېزمنتیا څخه څارنه او لیدنه

یاد فعالیت د عملیاتي پلان له اصلاح وروسته لرې شوی.

برنامه 3: تضمین کیفیت

3.7 مدیریت

3.7.1 لومړیتوب: د احصائیې دقیقه راټولونه، جوړونه او شریکونه او احصائیوي ارقامو ته د ادارو آسانه لاسرسی

1.1 فعالیت: د احصائیې او معلوماتو د راټولونې فورمې وروستي کول، د ۱۴۰۴ کال د احصائیې او معلوماتو را ټولول، د احصائیوي فورمو ډکول او د معلوماتو د مدیریت په سیستم (EMIS) کې یې ثبتول.

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د احصائیې عمومي مدیریت له خوا د اړوندو ولسوالیو پوهنې امریتونو ۴۵٦ بابه د عمومي او اسلامي زده کړو ښوونیزو مرکزونو ته ۵۰۰ سټه احصائیوي فورمې چاپ او ویشل شوې دي، چې له دغې جملې څخه ۴۹۵ سټه احصائیوي فورمې د اړوند ښوونځیو مدیرانو او سرښوونکو له خوا ډکې شوې دي، او یادې فورمې له تر لاسه کولو وروسته د معلوماتو د مدیریت په سیستم کې ثبت شوي دي.

1.2 فعالیت: د ۱۴۰۴هـ ل کال د احصائیوي ارقامو پاکسازي یا (Data cleaning)

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې،د د دې ریاست اړوند د احصائیې عمومی مدیرت له لوری ۴۹۵ بابه ښوونیزو مرکزونو د احصائیوی ارقامو د پاکسازی پروسه (data cleaning) بشپړه شوې ده، چې احصائیوی ارقامو د پاکسازی په پایله کې دقیقه، منظمه او باوری ډیټا ترلاسه شوی چې دا پاکه ډیټا د راپور جوړونې، تحلیل او پریکړو نیولو لپاره لا زیاته مؤثره او اعتماد وړ ګرځیدلې ده.

1.3 فعالیت: د هېواد ۱۴۰۴هـ ل کال د ښوونیزو بنسټونو د ارقامو تایید او تصدیق

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د احصایې عمومي مدیریت له لوري، د ۲۵ ښوونیزو بنسټونو ارقام تأیید او تصدیق شوي دي.

1.4 فعالیت: د احصائیې په برخه کې د اسلامي زده کړو د بنسټونو د مسؤلینو وړتیا لوړونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت او د احصائیې عمومي مدیریت له لوري د د ۵ ولسوالیو پوهنې آمریتونو په کچه، د اسلامي زده کړو اړوند ۶۰ تنه مسؤولینو ته د وړتیا لوړولو پروګرامونه دایر شوي دي، چې په پایله کې د ګډونوالو وړتیا د اسلامي زده کړو په برخه کې لوړه شوې ده.

1.5 فعالیت: د پوهنې د معلوماتو د مدیریت د نوي سیستم تطبیق

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د پوهنې د معلوماتو د مدیریت نوي سیستم د وزارت له لوري نه دی فعال شوی.

1.6 فعالیت: د نویو جوړ شوو، مدغم شوو او له ځای څخه د تغیر شوو ښوونیزو بنسټونو د خصوصیاتو را ټولونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د احصائیې عمومي مدیریت له لوري د ۳ ولسوالیو (کامدیش، وانت، دواب) اړوند د ۱۰ بابه مدغم شوو خصوصي مدرسو ځانګړتیاوې راټول او د جي آی اس په سیستم کې ثبت شوې دي.

3.7.2 لومړیتوب: د ۱۴۰۴ هـ ل کال د لومړیتوبونو او عملیاتي پلان له تطبیق څخه څارنه او ډاډ ترلاسه کول؛

2.1 فعالیت: د ولایتونو د ۳۵ پوهنې ریاستونو او مرسته کوونکو موسسو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه او د سپارښتنو تعقیب.

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو مدیریت مسلکي کارکوونکو له لوري د ریاست مرکزي هستې د ښوونې او روزنې، کیفیت تضمین او اسلامي زده کړو امریتونو له عملیاتي پلان څخه هر اړخیزه څارنه شوې او د اړوند کارکوونکو کړنې ارزول شوې دي. همداراز، د مرسته کوونکو مؤسسو د ټاکل شویو لومړیتوبونو په چوکاټ کې، د (ښاري) آمریت اړوند د ابرار موسسې د ۴ بابه ټولګیو له فعالیتونو څارنه ترسره شوې، نیمګړتیاوې ثبت او اړینې لارښوونې ورته شوې دي.

2.2 فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو مدیریت مسلکي کارکوونکو له خوا د (ښاري، کامدیش، او برګمټال) ولسوالیو د پوهنې امریتونو د عملیاتي پلان د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه هر اړخیزه څارنه ترسره شوې ده.

2.3 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند څارنې، ارزونې او راپور ورکولو مدیریت د څارنې او ارزونې مسلکي کارکوونکو له خوا په ۴ ولسوالیو کې د ۳۲ بابه ښوونیزو مرکزونو څخه د عملیاتي پلان د تاکل شویو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه ترسره شوې ده.

3.7.3 لومړیتوب: د پوهنې وزارت په بېلا بېلو کچو کې د راپور ورکونې د سیستم د پراختیا او تطبیق بڼه والی

3.1 فعالیت: د لومړیتوبونو\عملیاتي پلان په اساس د راپور ورکونې د آنلاین سیستم اصلاح، نوي کول او تطبیق

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د انټرنټ نشتون له کبله، یاد سیستم د د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، فعال شوی نه دی.

3.2 فعالیت: د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو د عملیاتي پلانونو له تطبیق څخه د میاشتنیو راپورونو را ټولول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان د پوهنې ریاست د مرکزي هستې له اړوندو مدیریتونو څخه راپور ورکولو مسلکي غړو له لوري هره میاشت راپورونه راټول او توحید کیږي، او د ولسوالیو څخه د انټرنیټ نشتون او د سختو مواصلاتي لارو د شتون له کبله نه دي ترلاسه شوي.

3.3 فعالیت: د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو د عملیاتي پلانونو له تطبیق څخه د ربعوارو راپورونو را ټولول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان د پوهنې ریاست د مرکزي هستې له اړوندو مدیریتونو څخه راپور ورکولو مسلکي غړو له لوري ۴ راپورونه راټول او توحید شوي، او د ولسوالیو څخه د انټرنیټ نشتون او د سختو مواصلاتي لارو د شتون له کبله نه دي ترلاسه شوي.

3.4 فعالیت: د راټول شوو راپورونو تحلیل او توحید

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د نورستان د پوهنې ریاست د مرکزي هستې له اړوندو مدیریتونو څخه راپور ورکولو مسلکي غړو له لوري ۴ راپورونه راټول او توحید شوي.

3.5 فعالیت: د پوهنې وزارت له ویب سایت څخه د عملیاتي پلان د پرمختګ د راپورونو خپرول

یاد فعالیت د مرکزي هستې له لوري تر سره کیږي، او راپورو د څارنې او ارزونې او د نشراتو او عامه اړیکو له ریاستونو څخه تر لاسه شي.

3.7.4 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په کچه د څارنې او ارزونې ریاست د کارکوونکو د وړتیاوو لوړول

4.1 فعالیت: د څارنې، ارزونې، راپور ورکونې کارکوونکو او د ادارو د راپور ورکونې مسؤلینو ته د ښونیزو توکو د بستې برابرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د څارنې، ارزونې او راپور ورکونې کارکوونکو او همدارنګه د برنامو او مدیریتونو د راپور ورکونې مسؤلینو ته د وزارت له لوري ښوونیزې بستې نه دي برابرې شوې.

4.2 فعالیت: د ولایتي څارنې، ارزونې او راپور ورکونې برخو د کارکوونکو روزل او وړتیا لوړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د څارنې، ارزونې او راپور ورکونې برخو کارکوونکو ته د وزارت له لوري روزنه نه ده ورکړل شوې.

3.7.5 لومړیتوب: د شهادت نامو د ترتیبولو او وېشلو د پروسې له پراوونو تېرول

5.1 فعالیت: د ښوونیزو بنسټونو د متفرقه شهادت نامو ترتیب، تدقیق، پراوونو تیرول او وېش

د ۱۴۰۴ کال د د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د اسلامي زده کړو اړوند ۳۰ تنه طالب العلمانو ته د نتایجو عمومي مدیریت له لوري شهادتنامې ورکړل شوې دي.

5.2 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه د راغلو انفرادي شهادت نامو ترتیب، تدقیق، له پراوونو تېرول او وېش

د ۱۴۰۴ کال د د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د نتایجو او شهادتنامو عمومي مدیریت له لوري د عمومي زده کړو د ۱۸ بابه ښوونځیو اړوند د دولسم ټولګي ۱۸۰ تنه فارغانو ته او د اسلامي زده کړو ۵۰تنه طالب العلمانو ته په انفرادي توګه شهادتنامې چاپ او ویشل شوې دي.

5.3 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه د راغلو ګروپي شهادت نامو ترتیب، تدقیق، له پراوونو تېرول او وېش

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د نتایجو او شهادتنامو عمومي مدیریت له لوري د عمومي زده کړو د ۱۸ بابه ښوونځیو اړوند د دولسم ټولګي ۴۸۸ تنه فارغانو ته په ګروپي توګه شهادتنامې چاپ او ویشل شوې دي.

5.4 فعالیت: د مرکز او ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د شهادت نامو د سپینو ورقو وېش

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د نتایجو او شهادتنامو عمومي ریاست له لوري د د دې ریاست اړوند نتایجو او شهادتنامو مدیریت ته ۵۴۳ ورقې سپینې شهادتنامي د عمومي زده کړو په برخه کې ورکړل شوې دي.

3.7.6 لومړیتوب: د ښوونیزو بنسټونو د فارغانو د نتایجو د کیفیت تضمین او اعتبار ورکونه

6.1 فعالیت: د ښوونیزو بنسټونو د ۱۴۰۳ هـ ل کال د فارغانو د جدولونو تطبیق او تایید

د ۱۴۰۴ کال ځلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ۹ ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د نتایجو او شهادتنامو مدریت له لوري د ۱۴۰۳ کال دعمومي زده کړو امارتي ښوونځیو د دولسم ټولګیو فارغانو ۱۸ جدولونه او د اسلامي زده کړو فارغانو ۱۲ جدولونه د کیفیت تضمین او اعتبار ورکونې په موخه تطبیق او تأیید شوي دي.

3.7.7 لومړیتوب: د همغږۍ ښه والی او مدیریت او د ریاست کاري ظرفیت لوړول

7.1 فعالیت: د نتایجو د جدولونو او شهادت نامو د سیستم د تخنیکي ستونزو د حلولو په موخه ولایتونو ته سفر

د ۱۴۰۴ کال د ځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د نتایجو د جدولونو او شهادت نامو سیستم د تخنیکي ستونزو د حلولو په موخه د وزارت څخه هیئت نه دی راغلی.

برنامه 4: مالي او اداري

4.1 طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/د سواد زده کړې زده کوونکی

په دې برخه کې کوم اولویت/فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل

4.2 مدرس/ښوونکی/ښوونکی

4.2.1 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د خالي بستونو لپاره د رشتې سره سم د مسلکي ښوونکو په وخت ګمارنه

1.1 فعالیت: د پوهنې وزارت د ښوونیزو چارو، پنځمو او شپږمو اداري بستونو د رقابتي ازموینو د طرحې د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د پنځمو او شپږمو اداري بستونو د رقابتي ازمویښو د طرحې د تطبیق لپاره د پوهنې وزارت له لورې لارښوونې نه دي شوې.

1.2 فعالیت: د ښوونکو د سپینو بستونو تثبیتول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت په کچه د ښوونکو ۱۵ خالي بستونه تثبیت او معلومات یې له اړوند مراجعو سره شریک شوي.

۴،۲،۲ لومړیتوب: د اداري، ښوونیزو مرکزونو او ښوونکو د ښارګوټو جوړولو لپاره د ځمکې برابرول

۱،۳ فعالیت: د استادانو او مدرسینو لپاره د کور جوړولو په موخه د ځمکې برابرول

د ۱۴۰۴ کال د د څلورمې ربعې تر پای پورې یاد فعالیت ترسره شوی نه دی، ځکه چې د مرکز له لورې هدایت نه دی شوی.

4.3 نصاب

په دې برخه کې کوم اولویت/فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل

4.4 ښونیزه ارزونه

په دې برخه کې کوم اولویت/فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل

4.5 ښوونیز چاپیریال

4.5.1 لومړیتوب: د نیمګړو ودانیزو پروژو د پشړولو لپاره د لازمو تدبیرونو نیول او تعقیب.

1.1 فعالیت: د نیمګړو ودانیزو پروژو بشپړول

د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه په ۱۴۰۴ کال کې د نیمګړو ودانیزو پروژو د بشپړولو په موخه، بودیجه نه ده ځانګړې شوې، له همدې امله یاد فعالیت د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، نه دی ترسره شوی.

1.2 فعالیت: د نیمګړو پروژو د تطبیق او بشپړولو څخه مقطعي څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د نیمګړو پروژو د بشپړولو په موخه بودیجه نه ده ځانګړې شوې، له همدې امله مقطعي څارنه نه ده ترسره شوې.

1.3 فعالیت: د 1405 هـ ل کال پلان لپاره د نیمګړو ودانیزو پروژو نومل برابرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ملکیتونو او تأسیساتو د ساتنې او څارنې مدیریت له خوا د ۱۴۰۵ هـ ش کال د پلان لپاره د ۲ نیمګړو ودانیزو پروژو نومل ترتیب او د پوهنې وزارت ته استول شوی دی.

4.5.2 لومړیتوب: د ګوابښ سره مخ تاسیساتو ترمیمول

2.1 فعالیت: د پوهنې وزارت د عادي بودجې څخه د پوهنې وزارت د ګوابښ سره مخ ښوونیزو او اداري مرکزونو د تآسیساتو ترمیمول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ملکیتونو او تأسیساتو د ساتنې او څارنې مدیریت له خوا د پوهنې وزارت د عادي بودجې څخه د ګوابښ سره مخ ۵ بابه ښوونیزو مرکزونه او ۱ باب اداري مرکز ترمیم او

معلومات يې د پوهنې وزارت سره شریک شوي، یاد ترمیم شوي تعلیمي مرکزونه له ګوهردیش ذکورو لېسه، د کلتن اناثو لېسه، اتټي مدرسه، مرکزي دارالعلوم او ګورا مدرسې څخه عبارت دي.

2.2 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مرسته کوونکو مؤسسو له بودجې څخه د پوهنې وزارت د ښوونیزو او اداري مرکزونو له خطر سره مخ تآسیساتو د ترمیماتي پروژو تطبیق

د ۱۴۰۴ کال د څلورم ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ملکیتونو او تأسیساتو د ساتنې او څارنې مدیریت له خوا د پوهنې وزارت د موسسو له بودیجې څخه د ګوابښ سره مخ ۱۸ بابه ښوونیزو مرکزونه ترمیم او معلومات يې د پوهنې وزارت سره شریک شوي.

چې یاد مرکزونه له: ابتداییه مختلط بونی، ابتداییه مختلط کامګل، لیسه ذکور واما، ابتداییه پولا، لیسه مختلط وانت وایګل، ابتداییه مختلط ینشاء، متوسطه اناث پخیګرام، متوسطه عبدالوکیل خان، متوسطه دهن پله ګل، متوسطه اناث نیک موکت، لیسه ذکور نیلاب، متوسطه تیتین، متوسطه ودهو، متوسطه اوله ګل، متوسطه بدینشاء، متوسطه اناث بازګل، متوسطه ذکور نانګل او متوسطه اناث نانګل څخه عبارت دي.

2.3 فعالیت: د هغه ترمیماتي پروژو د برآورد جدول په اړه چې تمویل کوونکي يې اسلامي امارت او د پوهنې وزارت مرسته کوونکې مؤسسې دي تخنیکي نظر څرګندول.

د ۱۴۰۴ کال د څلورم ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ترمیماتي پروژو د براورد په اړه د ملکیتونو او تأسیساتو د ساتنې او څارنې مدیریت د مسلکي انجنیرانو له خوا تخنیکي نظر نه دی څرګند.

2.4 فعالیت: د 1405هـ ل کال پلان لپاره د مرکز او ولایتونو څخه د خطر سره مخ ښوونیزو او اداري مرکزونو د ترمیم وړ تآسیساتو نومړو برابرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورم ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د 1405هـ ل کال پلان لپاره د ګوابښ سره مخ ۲۰ بابه ښوونیزو مرکزونه او د ۱ باب اداري مرکز نومړو چمتو او اړوند مراجعو سره شریک شوی.

2.5 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې وزارت د هغه شمېر له خطر سره مخ ترمیماتي پروژو له تطبیق او بشپړتیا څخه مقطعي څارنه چې د پوهنې وزارت او مرسته کوونکو مؤسسو له بودجې څخه تمویلېږي

د ۱۴۰۴ کال د څلورم ربعې تر پای پورې، د ۸ پوهنې امریتونو اړوند له ۱۸ ترمیماتي پروژو څخه چې د همکارو موسسو له بودیجې څخه تمویلېږي، مقطعي څارنه ترسره شوې.

4.5.3 لومړیتوب: د پوهنې وزارت د مرسته کوونکو مؤسسو د مالي ملاتړ په واسطه د ودانیزو پروژو جوړول

3.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مرسته کوونکو مؤسسو د مالي ملاتړ په واسطه د ښوونیزو مرکزونو د ودانیزو پروژو جوړول

د ۱۴۰۴ کال دځلورم ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د موسسو له خوا ۱۸ ښوونیز مرکزونه جوړ او لست يې د پوهنې وزارت سره شریک شوی دی.

3.2 فعالیت: د ترمیماتي او ودانیزو پروژو د قیمت ګزاری په موخه له ولایتونو څخه په ربعوار ډول د واحد فارمټ پر مټ د ودانیزو توکو د قیمت را ټولول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ملکیتونو او تأسیساتو د ساتنې او څارنې مدیریت له لوري ودانیزو توکو ته په یو واحد فارمټ کې نرخ ټاکل شوې، او له اړوند مراجعو سره شوی دی.

3.3 فعالیت: د هغه شمېر ودانیزو پروژو د تطبیق له بهیر څخه چې تمویل کوونکې یې مؤسسې دي مقطعي څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورم ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ملکیتونو او تأسیساتو د ساتنې او څارنې مدیریت له خوا د ۲۴ بابه ودانیزو پروژو د تطبیق له بهیر څخه چې له دې چملې څخه ٦ بابه د وزارت له عادي بودیجې او ۱۸ بابه د یونسیف په مالي ملاتړ جوړ شوي، مقطعي څارنه ترسره شوې ده.

3.4 فعالیت: د مرکز او ولایتون په کچه د کانسپت نوټونو او پروپوزلونو د مالي احجامو د ډکولو په برخه کې د انجنیرۍ ټیمونو مرسته

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ۱۰٦ کانسپت نوټونو او پروپوزلونو د مالي حجمونو د خانه پري کولو په برخه کې د انجینرۍ ټیم له خوا ۱۰۰٪ سلنه همکاري ترسره شوې ده.

4.5.4 لومړیتوب: د پوهنې د ښوونیزو مرکزونو او ادارو د جوړولو لپاره د ځمکې تدارک او براېرول، د ښوونیزو مرکزونو ساتنه او پالنه

4.1 فعالیت: د پوهنې وزارت د ښوونیزو مرکزونو او ادارو د ودانیو جوړولو لپاره د امارتي ځمکو غوښتنه

د ۱۴۰۴ کال دځلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ریاست اړوند د ملکیتونو او تأسیساتو د ساتنې او څارنې مدیریت په هلو ځلو او د عامو خلکو له لوري، د (کامدیش، واما او ښار) پوهنې آمریت اړوند د (کشتوز نمبریک لیسه، پونځ متوسطه او چتراس مختلط ښونځی) ودانۍ ته ۵ جریبه ځمکه ورکړل شوې ده.

4.2 فعالیت: د ښوونیزو او اداري ودانیو او اماکنو سجل

د ۱۴۰۴ کال دځلورم ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند ملکیتونو او تأسیساتو د ساتنې او څارنې مدیریت له خوا د ۲۴ بابه ښوونځیو ودانۍ او د ۱۲ ښوونځیو احاطې ښوونیزو مرکزونو اړوند ترمیم شوي ځایونو سجل شوي دي.

4.5.5 لومړیتوب: په ګدامونو او ادارو کې د ګټې اخیستنې وړ منابعو (درسي کتابونه، میز او چوکۍ، توره تخته، مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه، فرش او خیمه، وسایط، وسایل، تجهیزات او لابراتواري توکي)پېژندل او متوازن وېش یې

5.1 فعالیت: د ادارو د اړتیاوو تثبیت او پېژندل او د مصرف له څرنګوالي څخه یې ډاډ ترلاسه کول (قرطاسیه باب، روغنیات، محروقات، مفروشات، د اوبو رسونې وسایل، دبرق وسایل، خیمه او د اړوندو ادارو نور ضرورتونه)

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند د خدماتو مدیریت له لوري د ۱۰ ولسوالیو د پوهنې امریتونو اړتیاوې تثبیت او پیژندل شوې دي، چې له مخې یې ۲۵ قلمه توکي د منډول ولسوالی پوهنې آمریت ته، ۹ قلمه توکي نورګرام ولسولی پوهنې آمریت او ۱۳ قلمه کامدیش ولسوالی پوهنې آمریت ۱۱ قلمه وایګل ولسوالی ته ویشل شوي دي.

5.2 فعالیت: د مرکزي هستې او ولایتونو د پوهنې ریاستونو لپاره د مطبوع قرطاسیې وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د د دې ریاست اړوند خدماتو مدیریت له لوري د ۴ ولسوالیو پوهنې امریتونو ته، ۱۰۰۰ ټوکه د زده کونکو حاضری کتاب ۸۰۰ ټوکه ترقي تعلیم، ۲۰۰ ټوکه د مامورینو حاضري، ۴۰۰ ټوکه جنسي کتاب، ۴۰۰ ټوکه رسیداتو کتاب، ۲۴۰۰۰ ورق شوقه مضمون وار، ۲۰۰ ټوکه اساس کتاب، ۲۰۰ ټوکه د اندراج کتاب ۱۰۰ جلد لومړی صنف شاګردانو دخول او خروج کتاب او ۲۰۰ جلده د مامورینو سوانح د ۱۴۰۰سوانح

کارت،۴۰۰ د شاګردانو سه پارچی کتاب، ۴۸۰۰ د لومړې ټولګې څخه تر دولسم ټولګې پورې د نتایجو جدول شامل دي، ویشل شوې دي.

5.3 فعالیت: د ښوونځیو د زده کوونکو د ګټې اخیستنې لپاره د مېز او چوکۍ تولید او ترمیم

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د بودجې نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

4.6 د ټولنې ګډون

4.6.1 لومړیتوب: د پوهنې نظام د پراختیا لپاره د ټولنې د ګډون جلبول

